څو ورځې پخوا د خیبر پـه‌دې لوړ شـانې تاریخی دره کښی داپرېدو دغیرتی قام له‌خوا دپښتونستان آزادۍ د مجاهدې په لیار کښی یوه منظمه تاریخی دوره او مظاهره وشوه اود اپرېدو لښکر په لوی سړك تر کجورۍ اوباړی کـلا پورې د خیبر دری ګـاڼو بوټوته دآزادۍ غږورساوه .

دحوت ۱ ۱۳۳۰ش | دجمادی الاالثانی ۹ ۱۳۷۱ق | دمارچ ٦ ۱۹۵۲ ع

د(۲۱) کال (۲٤) گڼه

کابل

پنځلس ورځنۍ مصوره

ادبی اجتماعی ، تاریخی مجله

دپښتو ټولنې دلوی مدیر

صدیق الله رشتین

ترکتنې وروسته خپرېږی

پته:
پښتو ټولنه

تلگرافی پته:
کابل

د تلفون لمبر
دابن سناوات ۱۰٤۷

ددې ګڼې لیکنې

لیك	لیکوونکی	مخ
سیر او سیاحت یا ګرځیدل را ګرځیدل	ښاغلی « رشتین »	۱
حیا او دستر ګونو	« « خادم »	٤
ـ دملت شهید قاضی عطاؤالله خان	« « ننګ »	۷
الخوا رزمی	د « « سیفی » ترجمه	۱۱
پیغام	« « پکتیانی »	۱۷
سره پرهارونه مې کوی دتجلی خبری	« « دردمند »	۱۸
- ای پښتونه !	له اتحاد مشرقی څخه	۱۹
دامید غوتی	ښاغلی « لونګین »	۲۱
- دپښتون مغموم اوبې واکه ژوند	« « شریف »	۲٤
پاکستانی نشریات	« روشن « وردك »	۲۵
مرغان او انسان	د « « سیفی » ترجمه	۳٤
له نفاق څخه تو به ګار شیء	« شاولی	۳۷
ـ آزاد پښتونستان او دپښتنو راتلونکی ژوند	« « کلیم »	۳۹

د کابل دمجلې دتیرې ګڼې تصحیح

په (۲۳) په (۱٤) کرښه کې دې آیه شریف په لاندی ډول تصحیح شی .

زین الناس حب الشهوات من النساء والبنین والقناطیر المقنطرة من الذهب والفضة والخیل المسومة والانعام والحرث (ج) ذلك متاع الحیوة الدنیا والله عنده حسن المآب ه

د(۲٤) مخ په (۱) کرښه کې دې (زیمانو) ځلمیانو ، او په (۲۷) مخ په (۱) کرښه کې دې (جای) جامې اود (۳۳) مخ په (عنوان) کې دې (نسان) انسان و.لو ستل شی.

ددې ګڼې تصحیح

د(۲۹) مخ په (٦) کرښه کې دې (وغواړی) د عنوان او په (۹) کرښه کې دې (سلطنت) پیشوا واوستل شی.

سیر او سیاحت یا گرځیدل

را گرځیدل

دنیاله ډېر وښایسته شیانو او ښکلو څیز و نو څخه ډکه ده. په نړۍ کی ډېر خوند و نه او پټ لذتونه شته، جهان دقسماقسم نندارو او رنګارنګ تماشو یوه سینماده لا کن غړېدلی ستر ګی، روښانه نظر لټوونکی دماغ او سر بېره پردې سیر او سیاحت، گرځېدل را گرځېدل حرکت او خوځېدل غواړی. دخدای په مخلوق او پیدا وښت کی یوشی هم بی فایدی او بی مزې نشته، هر شی او هر څیز دیو مقصد دپاره پیدا شوی دی لا کن ټول عمر پلټنه او څېړنه غواړی تر څو چه د کاینا تو د پیدا یښت ښیګړی را بر څېره او څرګندې شی.

ددنیا د رنګارنګ خوند و نو او پټو راز و نو دڅرګند ولو دپاره دځمکی په مخ گرځېدل را گرځېدل یوه ضروری خبره ده، بلکه دپاك خدای له طرف نه یو ما مور به امر دی (قل سیروفی الارض فانظر و کیف کان عاقبة المتقین) دځمکی سیر او سیاحت، دملکو نو لیدل کتل، ددنیا لټول دلویو خلکو یو لوی او ستر کار دی څو مره نوی معلومات نوی څرګند و نی، نوی پلټنی چه په گرځېدو او سیاحت کی لاس ته راځی په بل صورت کښی لاس ته نشی را تلای.

ددنیا لویو خلکو او ستر و پوهانو همیشه په گرځېدو او دځمکی دمخ په لټون عمر تېر کړی دی او ډېر غوره معلومات قیمتی آثار ئې پیدا کړی او ډېری پټی خزانی ئی را برڅېره کړی دی نوی ځمکی ئی موندلی دی او دبنی آدمانو د پوهی او علم د زیاتېدو دپاره ئی غټ غټ خدمتونه کړی دی،

ډېر پخوانی سیاح چه مونږ ته معلوم دی او زیات شهرت لری دیونان (هیروډوت) دی دی دمؤرخینو دپلار په نامه یادیږی، تقریبا په (٤٠٠ ق م) کښی ئې دایشیاد مهمو بر خو سیاحت و کړ او ډېر تاریخی او جغرافیائی معلومات ئې راغونډ کړل. تر ده ورو سته

(بطلیموس) هم یو نومیالی سیاح اوسیلانی تېر شوی دی . په او ومه عیسوی پېړۍ کښې (هیوان تسانگ) یو مشهور چینی سیاح ؤ، ده په منځنۍ ایشیا او هند کښې څو کاله په گرځېدو او سیاحت تېر کړل ډېر معلومات ئی راغونډ کړل او راتلونکو خلکو ته ئې ارمغانونه پرېښودل .

بل چینی سیاح (فاهین) نومیدچه دی هم پوره شهرت لری . په مسلمانانو کښې هم ډېر سیاحین او گرځنده خلك تېر شوی دی . تر ټولو مشهور سړی (ابن بطوطه) دی .

دی د (مراکش) له خاورې څخه په گرځیدو سر شو، دایشیا په لویه وچه کښې وگرځېد او لوی تاریخ ئی ولیکه، دابن بطوط تاریخ په عربی کښې یو مشهور تاریخ دی .

داسلام عالمانو ددې امر مطابق چه (اطلب العلم ولو کان باالصین) په علم پسی دځمکی مخ لټولی او لېری لیری سفرونه ئې کړی دی .

خصوصاً څومره سیاحتونه چه دعلم حدیث عالمانو داحادیثو دلټولو او صحیح کولو دپاره کړی دی له هغو څخه دتاریخ کتابونه ډك دی .

کوم وخت چه دسیر او سیاحت نوبت اروپایانو ته ورسیدنو دوی په دې لار کښې داسی کشفیات وکړل چه دنیا ورته حیرانه شوه ددې سیاحتونو لومړی سر له پرتگال نه شروع شو په څو ارلسم عیسوی قرن کښې (کرستو کولمب) نومی مانګی دسمندر په سیاحت وووت په یوه وړه کشتۍ کښې کیناست او دسمندر لویو چپوته ئې ځان وسپاره، ده غو ښتل چه هندوستان ته لاړ شی لاکن نوی دنیا ته وووت او دامریکی ځمکه ئی کشف کړه چه نن دمدنیت یو روښانه مرکز دی .

اروپایانو چه دسیر او سیاحت خوازه ولیدل نو لکه مچ او میږی ټول په دنیا راخپاره شول، په دې سلسله کښې پرتگالیانو، هسپانویانو، انگریزانو، فرانسویانو، جرمنیانو او نورو په وچه لمده او هوا کښې ډېر سیاحتونه وکړل، ډېری ځمکی ئی وموندې، دسکندر ظلمات ته ورسیدل په (ارض تسعین) ئی خپل بیرغونه ودرول په شمالي او جنوبی قطبونو کښې وگرځېدل د همالیې اسمان ښکلونکو څوکوته وختل، دپامیر لوړی ځمکی او دکوه قاف (البرز) په سر ئې دنوح (ع) دکشتۍ دړی وموندی، دافریقی لویی صحراگانی ئې دپښو لاندی کړی، چه او بو کښې دسمندر تلونو ته کوز شول، په هوا کښې دیرش زره

فټه پو رته وختل ، دځمکی په مخ تري کوم پټ ځای پاتی نشو - ددې گرځېدنو په برکت علم ترقی وکړه ، دانسان دماغ حیرت ناکی کارنامې وښودلې دگرځېدو اوسیاحت شوق ، نوی اختراع گانی منځ ته راوویستلی ، الوتکی سمندری جهازونه ، دگرځېدواوتگ راتگ قسم قسم وسایل جوړ شول داټول شیان ددې دپاره سازشول چه نور هم انسان په دنیا کښی ښه وگرځی ، ښه سیاحت اوښه پلټنه وکړی اودقدرت اسرار ځانته معلوم کړی . په معنی کښی اروپایانو یه (قل سیروفی الارض) باندی پوره عمل وکړ اولاورپسی لگیا دی . اوس ئې دسپوږمۍ د سیاحت خیال په مغزو کښی پیدا شوی دی او داسی معلومیږی چه ترڅو دسپوږمۍ سیاحت ونه کړی ترهغه به په کلار کښیننی .

غرض دادی چه سیراوسیاحت گرځېدل راگرځېدل دعلم دزیاتېدو دتجربې پیدا کېدو دمعلوماتو دډېریدو یوه لویه ذریعه او دترقۍ اوپرمخ تگ یوه پخه زینه ده .

یو پښتون شاعر په دې باره کښی څه ښه ویلی دی :

په قصو مطلب مونده نشی پسی پا څه - له گفتاره چا کر دار موندلی نه دی .

پښتانه په دې حصه کښی ترټولو قومونو وروسته پاته دی ، پښتنو ته له کوره وتل ډېر گران کار ښکاری . دبل ملك سفر یا بل وطن ته تگ ورته دکوه قاف ختل معلومیږی . دی بد ذهنیت په دوی کښی دترقۍ اوپوهی روح وژلی دی اوددوی دلوړتیا حرکت ئی په ځای درولی دی ښایی چه پوه پښتانه دې خبروته متوجه شی اوپښتانه له غرونو څخه راوکاږی اوپه علم پسی ئی اروپا اوامریکی ته ولیږی ترڅو چه دوی هم ددنیا دقومونو په څنگ کښی د خپل شان سره وړ ځای پیدا کړی ! (رشتین)

اخلاقیات :

ښاغلی قیام الدین «خادم»

حیا او دستر گونو

حیا او دستر گو نو دیوشی څخه دنفس دانقباض، او دشرم څخه دهغه پر یښوده دی . او «خجالت» دحیاافراط ته وایی چه سړی دحیأدزوره وارخطا اوحیران شی، یائی دهغه شی له کولو څخه نفس منقبض شی، چه دهغه نه حیاء کول نه ښائی. نوحیاء د خوی اعتدال دی او ښه دی. اوخجالت افراط اوداندازی نه وتل دی اودا بددی، دارنگه نور ډیرخو یونه دی چه داعتدال داندازې نه تیرشی اوضدته ورسېږی نوبد گڼل شی لکه اسراف دسخا په نسبت، یاتهور دشجاعت په نسبت. یاحرص د کسب په نسبت، هوښیارانو ویلی دی: «بېځایه حیا کول دسړی ضعف دی.» همدارنگه دپوهانو قول دی چه «حیادرزق مانع ده» داډیره فکر ته نږدی ده. چه حیادې په انسان کښی د عقل داثارو اودده دلویو مظاهرو څخه وی: ځکه چه دادواره سړی ته دعقل اوفکر موقع ور کوی اود بدو کارو اونا کارو چاروڅخه یی رابندوی. امام غزالی وائی: کوم وخت چه کوچنی حیا کوی اوځنی افعال نه کوی، نوبل سبب نه لری پرته له دی چه په ده کښی دعقل نورځلېدلی دی او دایو زیری دی دده داخلاقو داعتدال اودزړه دصفائی نوحیاناك وړو کی نه ښایی چه خوشی پریښودل شی بلکه په کاردی چه دحیاله لاری څخه دې دده په تادیب کښی کومك واخستل شی. اسلامی شریعت داخلق هم دایمان دمقومه اومتممه اخلاقو څخه گرزولی دی . لکه چه رسول الله صعلم وائی «حیا دایمان شعبه ده» ـ «حیادایمان نظام دی» «نظام» هغه مزی ته وائی چه دامیل مرغلری ساتی او لړیء کوی یی، حیاهم داسی یوخوی دی چه دایمان ټول خویونه او اوچت فضائل ده ته ضم کړی، او که دانه وی ورنه زائل شی نونراخلاق اوفضائل هم ورسره ځی لکه دمرغلرو مزی چه وشلېږی خومرغلرې توی اویوه یوه شی، رسول الله صلم وائی :

« حیاء اوایمان سره نښتی دی چه یونه وی بل هم ورسره ځی » « د حیاء کم والی کفر دی » یعنی د حیا کم والی د سړی څخه داسی کارونه صادروی چه د خدای تعالی نارضائی او قهرراولی، او دا کفردی یا دا چه دا د کفر دعلامو

څخه یوه علامه ده. یوازی داهم نه ده بلکه رسول الله صلعم حیاء خاص د اسلام د خویو نو څخه گرزولې ده لکه چه وائی: «هر دین څه خوی لری او د اسلام خوی حیاء ده» دی کښی هیڅ شك نشته چه د اخوی د انسان دهغه شی په کولو او نه کولو باندی اچوی چه اسلام ئی د انسان څخه پدی عالم کښی غواری. نو چه د اخوی دسړی په نفس کښی تینګ شی نو د تولو بدیونه ئی را گرزوی او تولو نیکیوته ئی وړاندی کوی. او بالعکس که ددی اثر ضعیف او کمزوری وی، او په ځای ئی بی شرمی او بیباکی در پیدا کی وی نو دغه وخت سړی ته هر نامشروع اسانیږی. او دغه د رسول الله صلعم ددی وینا معنی ده چه:

«کوم چه خلقو د رومبی نبوت څخه میندلی ده داده چه ای بنیادمه که ته حیا نه لری نو هر څه چه دی خوښه وی کوه» یعنی دغه وصیت د پخوانو پیغمبرانو دی چه خپلو رومبنو امتونو ئی کړیدلی. او د اچه ویلی یی دی «چه څه دی خوښه وی کوه» دا معنی نه لری چه در ذائلو مرتکب شه، بلکه دا د عربو د بلاغت یو اسلوب دی: مراد دادی چه سړی کښی حیا نوی نو هغه نه هیڅ امید نه کیږی او د هر رذیل کار د کولو د پاره تیاروی.

داسی وائی چه علقمه د علاثه (رض) زوی وویل: ای رسول الله (ص) وعظ را ته وکړه. نو ده (ص) ورته وویل:

«خدای نه داسی حیاء کوه لکه د خپل د هیبتنا کو خلقو څخه ئی چه کوی»

یعنی کوم چه د خدای تعالی د قهر کارونه دی هغه د ده د حیاء په وجهی پریږده. لکه چه ته د خپل قام د لویو او ساهو خلقو په مجلس کښی د یو بد او قبیح کار په کولو شرمیږی، او خدای تعالی خو پدی احترام او توقیر ډیر وړ دی ولی چه دی ستا پیدا کونکی دی. نو د خلقو نه حیاء کول ښه دی ولی د دینه ښه او نافع تا ته داده چه له هغه خدایه حیاء وکړی چه هغه ته په خپلو تولو حالاتو باندی آگاه او خبر گنی، ځکه چه له خدایه حیا کول تا د هر بد کار څخه په هر ځای او هر وخت کښی منع کوی، نه یوازی د خلقو په مخکښی د ځان څخه حیاء کول په نفع او فایده کښی داسی دی لکه د خدای تعالی څخه حیا کول، معنی دا چه سړی خپل ځان ته په خپل نفس کښی د حرمت او قیمت قائل شی. او قبیح کار د ځان له شرمه او د هغه د زجر په سبب ئی داسی پریدی لکه چه د خلقو نه د شرم او حیا په

سبب ئی چه پریږ دی. نو که داسی ونکړی نو گویا په خپل ځان باندی پخپله ذلت او پستی مهر وی، ځکه چه خپل ځان د ټولو خلقو ددرجی نه لاندی شمیری. عاقل سړی پخپله دداسی مواقعو څخه ځان پورته گڼی لکه چه یو شاعر وائی.

«ز ما پټ لکه ښکاره داسی دی. او دامی خوی دی او د شپی تیاره می داسی ده لکه رڼا ورځ»

په لطائفو کښی داقصه راغلی ده چه څو ملگرو خپل یو رفیق خپلو ځینی دلوبو او ټقالو مجلسو ته وغوښت، نو جواب ئی ورنکړ او ورته وی لیکل: «زه بیگاه په څلویښتم کال داخل شوی یم او دخپل عمر څخه شرمیږم» ابوبکر رضی الله عنه به داشعر ډیر په مثالو کښی راوړ: زه گویا هغه څوك چه حیاء او دیو امانت دساتلو واك نه لری دقوم په مینځ کښی بربنډ گورم: یعنی هغه بی شرم او بیحیاء سړی چه دبیحیائی په سبب یو سرهم امانت نشی ساتلی او دبیباکی په سبب دخلقو له مخه هرڅه وائی او کوی ئی نو خلق ئی په پټو اخلاقو او اسرارو پوه او خبر شی. نو دی گویا بربنډ دی هیڅ شی ئی نشی پټولی. په همدغه معنی کښی امیر المؤمنین علی رض دا قول دی چه «هغه چاته چه حیا خپله جامه واغوندی خلق ئی عیب نه گوری.»

ښاغلی ایف ، ایم ، ننګ یو سفری :

د ملت شهید قاضی عطاؤالله خان

قاضی عطا ؤالله خان هغه لوی شخصیت ؤ چه دده ذات د ډیر تعریف محتاج نه دی او دا سې کوم پښتون به نه وی چه هغه به قاضی صاحب له لرې یا نېږدې نه نه پېژنی ، اوده ته به ډیر عقیدت او احترام نه لری



(ښاغلی قاضی عطاؤالله خان)

قاضی صاحب یو ننګیالی پښتون ؤ ، او دپېښور دخوا او سېدونکی ؤ چه له خو کلونورا هیسې قاضی صاحب دپېښور پهځای دمردان په علاقه کښې استوګنه اختیار کړې وه ، د قاضی صاحب اصلی نوم عطاؤالله خان اوقاضی دده خاندانی نوم ؤ ، د قاضی صاحب تعلیمی معیار ډیر لوړ ؤ او دی لهعصری عالمانو نه یو نامتوعالم حسابېده۔ قاضی صاحب د خپلې مورنۍ ژبې پښتو نه سوا ، په انګریزی ، فارسی ، اردو او عربی ژبو کښې هم ښه لاس لاره ، او د محکوم پښتو نستان صوبه سرحد په قانون دانانو او بیرسټرانو کښې یو مشهور بیرسټورلاء ؤ ، دملت ددې شهید څنګه چه اخرې سلګۍ ئې دملت د خدمت په لاره کښې ور کړه او د خپل ګران وطن او قام د شهیدانو په ټولی کښې ئې ځانته مقام پیدا کړه همدغسې ددې ننګیالی مشر ټول قیمتی ژوند د وطن د آزادۍ په لاره کښې تېر شوی دی — او دی څوواری د انګریزې سامراج د جیلخانو د تورو کوټو مېلمه شوی ؤ ، قاضی صاحب په دې مقدسه لار کښې ډیر تکلیفو نه او کړاوونه زغملی ؤ ، قاضی صاحب په دې مقدسه لار کښې وهل خوړلی ، مېچنې ګرزولی او نور ډیر ډیر زحمتو نه ئې تېر کړې دی مګر د پښتون د ملت دی او لوالعزم لېډر او ننګیالی مشر دی .

او په هر وقت او هر حالت کښې ئې د خپل قام آزادی او آبادی غوښتې ده، شهید قام قاضي عطاؤالله خان دفخرافغان له نژدې او صمیمی ملګرو څخه ؤ — په نولس سوه یو دېرش عیسوی کښې هر کله چه په ټول هندوستان کښې سیول نافرمانی شروع شوه او په محکوم پښتونستان کې هم په زرګونو پښتانه دجیلخانو په تورو کوټو ورننو بستل شو نو حکومت دپښتون ملت لوی قائد فخرافغان خان عبدالغفارخان، قاضی عطاؤالله خان سعدالله خان، ډاکتر خان صاحب دمرکزی محکوم پښتونستان صوبه سرحد — په جیلونو کښې هم بند نه کړه بلکه داڅلور واړه ئې دهندوستان مختلفو جیلونو ته واستول او له یو بل نه ئې جدا کړه، داځکه چه حکومت په دې پوهېده چه که چېرې فخرافغان ډاکتر خان صاحب، او یا قاضی صاحب، او سعدالله خان د څلورو واړو نه هریو چه دمرکزی محکوم پښتونستان په جیل کې وی نوامکان نه لری چه حکومت د آزادۍ تحریک ډب کړیشی — قاضی صاحب دخپل قید په دغه دوران کښې د سعدالله خان سره څو میاشتې وروسته د(بنارس) په جیل کښې یوځای کړی شو، قاضي صاحب چه د پښتنو تاریخ لیکلی دی نو ددې تاریخ په لیکلو ئې لمړی پیل د بنارس په سنټرل جیل کې کړیؤ او ډېره برخه ئې په دغه جیل کښې لیکلی ده له دې نه روسته هر کله چه قاضی صاحب له جېل نه را بهرشو نو دې ننګیالی مشر بیاد قام د اصلاحی پروګرام مخ په وړاندې بوتللو اودازادۍ یه میدان کښې دپښتنو دتربیه کولو په کار کښې د فخرافغان سره دښی لاس کار ورکاوه، او خپله شپه ورځ ئې دقام دپاره وقف کړې وه په نولس سوه دوڅلوېښت کښې چه دبرطانوی حکومت خلاف بیاد سیول نافرمانی تحریک شروع شو په دې تحریک کښې قاضی صاحب بیاد پښتنی لیډر په حیث ګرفتار کړشو اودپېښور سنټرل جیل کښې بندی شو، قاضی صاحب دپښتنو د تاریخ چه دده تصنیف دی څه ډېره برخه د ۱۹۴۲ ع د ګرفتارۍ نه وروسته د پېښاور په سنټرل جیل کې هم لیکلې ده، دتیر عمومی جنګ دختمېدو نه روسته هر کله چه داندین نیشنل کانګرس ټول مشران اوسیاسی کارکنان خلاص شول، نودپښتنو مشران فخرافغان خان عبدالغفار خان، قاضی عطاؤالله خان، ډاکتر خانصاحب او نور

هغه په زر گونو پښتانه چه د ۱۹٤۲ اگست په تحریك کښې گرفتار شوی ؤ، — را خلاص شول ، او د قومی وزار تونو د بحال کېدلو په صورت کښې په محکوم مرکزی پښتونستان کښې دډاکتر خانصاحب قومی وزارت برسراغندار راغی، مرحوم قاضی عطاؤالله خان په دې وزارت کښې دصوبائی، داخلی، رومانی وزیر په حیث وتاکل شو ترنولس سوه ثلوېښت پورې قاضی صاحب دصوبی دداخلی وزیر په حیث ؤاوهر کله چه په نولس سوه ثلوېښت عیسوی کښې په صوبه سرحد کښې دعمومی اختیاراتو د انتقال په نامه په تمامه معنی سره غیرقانونی اوجبری ریفرنډم وشو، اوبرطانوی حکومت د پښتنو دمرضی نه خلاف دپښتون ملت واگې دسامراجی قوت په زور د کراچۍ دظالم مستبد اوغیر پښتنی واکدارانو په لاس کې ور کړې اودډاکتر صاحب وزارت ته ئې دپاکستان سره دوفاداری سوگند ورورا ندې که نو په کابینه کښې لمړی سړی قاضی عطاوالله خان ؤ چه په هسکه غړی ووې زه پښتون یم اویو پښتون دغیر حکومت سره دوفاداری قسم خوړل ذلت گڼی مونږ به که خدای کوی دخپلو سرونو په داو آزادی گټو او بیا به دپښتنی حکومت سره دوفاداری سوگند خورو، اودپښتونستان بیرغ ته به د احترام سلام کوو، چنانچه په غیرقانونی صورت دډاکتر خانصاحب وزارت مات کړی شو ، او د کراچۍ واکدارانو خپل زرخرید ایجنټ غیرپښتون عبدالقیوم وزیر اعظم وتاکه اویو څو کسه نور لکه میاجعفرشاه او نور داسې ملت فروش اودپښتون قام خائنان ئې په وزارتونو وتاکل، له دې نه روسته قاضي صاحب بیادقام دآزادی په مجاهده گوتې پورې کړې اوپه هرو خت کښې په قومی کارونو کښې دفخرافغان نبی لاس ثابت شو ، منکر د کراچۍ دمستبد اوغیرپښتون حکومت نه د آزادی حرکت برداشت نه شو او تول پښتنی مشران او څوارلس زره نور پښتانه ئې په جیلونو کې وغور ځول قاضی صاحب دگرفتاره ولو سره سم دسند حیدرآباد جیل ته واستولی شو، اودپروخت دسند حیدرآباد په جیل کې دپاتې کېدونه وروسته پاکستانی جابر حکومت له هغه ځای نه دمچهه جیل ته و استاوه او دده سره به ئې هغه سلوك کاوه چه وحشت به تري هم له شرمه مخ پټ کړی، شپه ورځ تکلیف ور کولو اوسخت مشقت کولو ته مجبور ولو، او خراب

خـو راك دقاضی صاحب صحت ورځ په ورځ خر اباوه او آخر تر دې حده ور سېد چه دبچ کـېدو امیدئی پاتې نشو نوهله پاکستانی وا کدارانو چه په دې پوه شول چه دجېل نه دوتو سره سم قاضی صاحب داعی اجل ته لبیك وائی نو قاضی صاحب ئې راپر ېښو داو قاضی صاحب دپنجاب دمرکزی ښار لاهور په یو هسپتال کښې اخرې سلگۍ وکړې «انالله وانا الیه راجعون»

نـن دپښتون قام یو ننگیالی مشر دپښتنو له ستر گونه پناه شو، منگر قاضی صاحب دپښتنو له زړ ونو نه نه دی بېل شوی، دقاضی صاحب عقیدت او مینی دهر پښتون به زړه کې خپل مقام نیولی دی، قاضی صاحب مړ نه دی، ځکه چه قاضی صاحب دملت شهید دی، قاضی صاحب دقام او وطن دآزادی په لاره کې خپل سرور کړ او دشهادت لوړ مقام ئې حاصل که، دوطن شهیدان نه مری. هېڅکله نه مری نو ځکه قاضی صاحب هم مړ نه دی ترڅو چه د پښتون تاریخ وی قاضی صاحب به هم وی، د پښتون بچی بچی دخپل دې ننگیالی مشر او ملی شهید روح ته خراج عقیدت او خراج تحسین بیش کوی او ترڅو چه داد نیاوی او دپښتون نسل وی دپښتون هر نسل به دقاضی صاحب په نوم باندې فخر کوی، او د ده پاك روح ته به هر وخت دعقیدت خراج پیش کوی، او که پښتانه پښتانه ؤ او غیرت پکښې ؤ نو هغه ورځ لری نه ده چه پښتانه ځلمیان به دقاضی صاحب او هغو ټولو شهیدانو انتقام واخلی کوم چه دوطن دآزادۍ او خپل فطری حق په لار کښې د کراچۍ دظالم او غیر پښتون وا کدارانو له لاسه په شهادت رسېدلی دی، او هلته به دپښتنو دغلیمانو ستر گې وسپړ دل شی چه دپښتون دښمنی کول څه انجام لری په آخر کښې زه بیا دملت دشهید قاضی صاحب پاك او ملکوتی روح ته دعقیدت خراج پیش کوم او لوی څېښتن ته مناجات کوم چه څښتن تغالی دی دملت دی شهید ته په خپل جوار رحمت کښې ځای ور کړی آمین ثم آمین.

شهید دقام ستا په روح باندې سلام وایمه ډېر درو دونه سلامو نه صبح وشام وایمه

له خارجي مطبوعاتو څخه:

دښاغلي «سيفي» ترجمه

الخوارزمي

په اسلامي تاريخ کښې د مسلمانانو د علومو او فنونو ذکر يو ښکاره باب او د دوی د تصنيفاتو ذکر هغه ثابت حقيقت او عام شي دی چه د نړۍ د علمي تاريخ په آسمان کښې د لمر غوندې ځلېږي او د نړۍ پخوانو قامونو چه کومه ترقي په علومو او فنونو کښې کړی ده په هغو کښې د اسلام علما ډېره برخه او ځلاند مقام لري دوی يواځې ديو قام او ملت د پاره خدمت نه دی کړی بلکه دوی د ټولو پخوانو قامونو د علومو او فنونو سره راتلونکې نسلونه آشنا کړی دی او د وی د پخوانو تيرو قامونو علمي پانګې او خزانې او په تېره بيا هغه ذخيری چه په فلکياتو او رياضياتو کښې وی او نن دغو پخوانو ذخيرو ته د لمر پريوانه خوا قامونو پوره ترقي ورکړه او د دوی تحقيقاتو د افن ډېر وسيع فن وګرځاوه او د دې فنونو په حاصلولو کې او په دی فنونو کې د اضافه کولو او د دغو فنونو راتلونکو نسلونو ته په رسولو کې مسلمانان علما او د ساينس پوهان د اوليت مقام لري لکه چه پخپله د لمر پريوا ته خوا پوهانو هم پدې حقيقت اعتراف کړی دی چه که مسلمانان نه وای نو په دی خبره کښې شك نشته چه د نړۍ علمي ترقيات به تر ډېر و پېړيو وروسته پاته شوی وای؛ او کوم ترقيات چه نن نړۍ په علومو او فنونو کې کړی دی هغه به ئې نه ؤ کړی.

د رياضياتو او نجوم علوم هغه قيمتي پانګه ده چه مسلمانانو د اروپا د ساينس پوهانو ته پرې ايښی ده - په کوم وخت کې چه اسلامي پوهان د دې علومو په تکميل کښې بوخت او مصروف ؤ او اسلامي ممالك د دغو علومو چينې او مرکزونه ؤ او د نړۍ د ټولو اطرافو او اکنافونه به خلك او د علم او عرفان تېزی په دغو مراکزو کې خړوبېدل او د بغداد او قرطبې پوهنتونونو کښې د دې علومو د درس او تدريس بازار ګرم ؤ او د اسلامي ممالکو په يونيورستو کښې د نړۍ د اطرافو او اکنافو څخه د علومو او فنونو شوقيان راټول شوی د مسلمانانو څخه په زده کړه بوخت ؤ او په دغه وخت کښې چه په اسلامي ممالکو کښې د علومو او فنونو زور او شور او غلغله وه په دغه وخت کښې په اروپا د ناپوهۍ او جهالت تورې وريځې خپرې وې او هر کله چه د اروپا په خلکو کښې د (رنسانسن)، يعنی د علمي احيا دورهٔ

شروع شوه نو هغوی په خپلو دار العلومونو کې د همدې علومو په زد کړه پیل وکړ او پیډوا اوسلرنود یونیورستو د تعلیم په نصاف کې همدغه د مسلمانانو ساینس دانانو تصانیف داخل وو او له دې تصنیفو نو څخه په لاطینی ژبه د ترجمو په برکت د ساینس لمر د مغرب له خوار او خوت په اسلامی عهد کښی له فتوحاتو نه وروسته له ټولو څخه لومړی کار په خلکو کې د علومو او فنونو خپرول او اشاعت ؤ لکه چه د دی مرام او نصب العین په اثر مسلمانانو د ټولو څخه لومړی د یونانیانو د علومو څخه فلکیات او نجوم او ریاضیاتو ته توجه وکړه او کوم کتابونه ئې چه له دغې ژبې څخه په عربی ژبه ترجمه کړل نو فی الحال ئې د دغو فنونو په عربي ترجمه شوو کتابونو په شرحو لیکلو پیل وکړ او د خپلو علمی تحقیقاتو او پلټنو په لړ کې ئې په هغو مستقل کتابونه د شرحو په ډول ولیکل او د دغو فنونو او علومو د تکمیل او توضیح په شا او خوا کی ئې مستقل او مفصل کتابونه تصنیف کړل .

دوی د خپلو پلټنو په لړ کې یواځې د یونان په ذخیرو اکتفأ ونه کړه بلکه دوی د فلکیاتو او ریاضیاتو د تکمیل په سلسله کې د بابلیانو او کلدانیانو او ایرانیانو او د هندوانو د علومو او فنونو څخه هم پوره واقفیت حاصل کړ او کوم تحقیقات چه دوی په فلکیاتو او ریاضیاتو کې کړی دی هغه نن د اروپا د پاره یوه قیمتی پانګه او ذخیره ګڼلی کېږی صفر [Zero] چه د روزانه ژوند د حساب او کتاب په چارو کې نن ډېر زیات مهم رول لوبوی مسلمانانو نړۍ ته معرفی کړی او له ده څخه ئې د کار اخیستلو او استعمال طریقه ورښوولې ده - او هم دغه راز دغو مسلمانانو پوهانو الجبرا - یا الجبر او المقابله ته دیو یقینی او مستقل ساینس درجه ور کړه او دې فن ته ئې تر دې اندازې ترقی ور کړه چه دا فن د تحلیلی هندسی اساس وګڼلی شو او د علم المثلث اساس ئې کښېښود چه دا علم یونانیانو څخه هم قطعاً نه ؤ - که څه هم په مسلمانانو کې کښې د ساینس او ریاضیاتو او نجوم په فن کې ډېر پیاوړی پوهان تېر شوی دی لیکن الخوارزمی په دوی کې خاص شهرت او ممتاز مقام لری دی د اسلامی پوهانو په لړ کې هغه نامتو او پیاوړی عالم دی چه په ساینس کې او ریاضی کښې د لوی لاس او پوره مهارت خاوند دی او کوم تصانیف چه دې پیاوړی د ریاضی او ساینس په فن کې لیکلی دی هغو د منځینو پېړیو په ریاضیاتو پوره تاثیر کړی دی او هغه دا ډول تحقیقات او معلومات دی چه نن هم د اروپا پیاوړی او نامتو ریاضی دانان د هغو د استفادی څخه نشی بی نیازه کېدلی .

محمد بن موسی الخوارزمی خوارزم ښارته منسوب دی چه نن دغه ښار په خیوه (Khiva) نوم شهرت لری ، ددې پیاوړی عالم دژوندانه دحالاتو په شا اوخوا کې زمونږ علمی تاریخو نوڅه نه دی ویلی او نه مونږ دده دوفات اوولادت په شا اوخوا کې څه معلومات لرو .

طبری په خپل تاریخ کې دی په یوځای کې په المجوسی یاد کړی دی دطبری له دغو لیکلو څخه معلومیږی چه دی اول زردشتی ؤ اوروسته مسلمان شوی دی ځینو مؤرخینو دی قطربل ته منسوب کړی دی اوقطربل دبغداد په خوا کې ددجلې په لمر پریواته خوا کې دیوې علاقې نوم دی ؛ نوددې لیکلو په اساس داخبره امکان لری چه دی به له قطربل څخه بغداد ته راغلی وی .

له عربی تاریخونو څخه فقط دومره معلومیدلی شی چه دی د خلیفه المامون په دربار کې دنور ودرباری منجمانو څخه یو منجم ؤ .

او کوم هیئت چه دځمکې د کچ کولو دپاره دمامون له خوا تا کل شوی ؤ دی هم په دغه هیئت کښې شامل ؤ ابن الندیم لیکلی دی چه دی به تل دمامون په خزانة الحکمت کښې ناست ؤ او د کتابونو مطالعه به ئې کوله طبری لیکلی دی چه خوارزمی دهغو منجمانو دډلې څخه یو منجم ؤ چه خلیفه الواثق بالله دخپل مرض المموت په وخت کې راغوښتی ؤ ، او د خپل ژوند په شا اوخوا کښې ئې له هغو څخه پوښتنه کړې وه اودوی ورته پځواب کې ویلی ؤ چه ته دډیر عمر خاوند ئې لیکن هغه ډیر زر مړ شو .

دجرمن ریاضی دان پروفیسور ایچ ،سوتر ،(Suter) دتحقیق سره سم خوارزمی په (۲۲۰ھ) او (۲۳۰ھ) کلونو کې مړ شوی دی لیکن په دې موضوع کښې ایطالوی پروفیسور نلینو دا نظریه لری چه خوارزمی په ۲۳۲ھ کال کې دخلیفه الواثق دوفات نه وروسته مړ شوی دی .

دده دژوندانه په شا اوخوا کې پرته له دغو ذکرشوو معلوماتو څخه مونږ نور معلومات نه لرو لیکن په هیئت او ریاضی کې دده تصنیفونه او په دې علومو کې دده دتحقیقاتو پوره حال معلومیږی ، دالخوارزمی توله علمی کارنامه ، په نجوم اوریاضیاتو کې ده او دنجوم په فن کې دده یو (السندهند) نومی تصنیف دی چه دغه کتاب ده دمامون په زمانه کې تصنیف کړی ؤ که څه هم د هندوستان دریاضی په فن کښې نامتو پیاوړی برهم ګپتا

په (٦٢٨ع) کال کښې برهم سپت سدهانت نومی کتاب دعلم هیئت اوددې فن دحسا بو نو په شا اوخوا کې دسری چاپاخاندان راجه دیا گهرمو کهه دپاره تصنیف کړی ؤ.

اوهم دغه راز په ١٥٤ه کال کښې دسنده یوعلمی وفد دخلیفه منصور عباسی در بار ته تلی ؤ چه په دغه وفد کې یوهندوعالم هم ؤ او ددغه هندو عالم په ذریعه دغه کتاب بغداد ته ورسید اود غه کتاب دخلیفه په امر په عربی ژبه ترجمه کړی شو- او د کار په هغه وخت کې شوی ؤ چه په دغه وخت کې دیونانی هیئت کتابونه په عربی ژبه نه ؤ ترجمه شوی اودیونان دبطلیموس د کوا کبو دحساب او فلکیاتی جدولونو رواج نه ؤ پیدا کړی، په دغه وخت کې دا کتاب دخلکو ډیر زیات خوښ شو اودې کتاب تر دې اندازې رواج و موندچه د کوا کبو دحرکاتو او نورو فلکی چارو په خصوص کې دمسلمانانو هیئت دا نانو دارو مدار په همدې کتاب ؤ اودما مون په دوره کې دیونانی بطلیموس دهیئت حساب او دستورودحرکت جدولونولږ ډیر رواج پیدا کړ لیکن الخوارزمی دسدهانت په طرز السندهند نومی یو کتاب مرتب او په خپل دغه کتاب ئې السندهندنوم کښېښو دچه دغه نوم دسدهانت مسخ شوی نوم دی داسپین پیاوړی هیئت دان مسلم بن احمدالمجریطی چه په (٣٩٦)ه کال کې مړ شوی دی دا کتاب تدوین کړاوده دتدوین نه وروسته دا کتاب په لاطینی ژبه ترجمه شواودتولو نه لومړی ددې کتاب په برکت چه دزیج الخوارزمی په نوم شهرت لری دهندوانودعلم نجوم دحسا بو نوڅخه داروپادهیئت دفن پوهان خبر شو که څه هم اصل هغه کتاب چه په سنسکرت کې لیکل شوی دی لږه موده وړاندې چاپ شوی دی.

که څه هم یو مشهور مسلمان ساینس دان البیرونی چه دهندوانو دهیئت څخه ئې بی له کومې واسطې استفاده کړې ده په دې کتاب کې ځینی نواقص لیدلی او په دغه کتاب ئې د(علل زیج الخوارزمی) په نوم یومفصل کتاب لیکلی دی چه دغه کتاب په عبرانی اودعبرانی څخه په جرمنی ژبه ترجمه شویدی په دی فن کې الخوارزمی په (رویتهلال) نوم هم یو کتاب لیکلی دی او پدې ډول دده یو کتاب په جغرافیه کې د(کتاب صورة الارض) اورسم افریقه په(١٩١٦ع) کال کې دډیرو نقشو او تصریحاتو سره په جرمن کې چاپ شوی دی او دعلم هیئت دحسا بو نو د معلو مو لو مشهورې آلې اصطرلاب دجوړولو اواستعمالولو دطریقې په خصوص کې ده دوه کتابونه لیکلی دی چه له دغو کتابونو نن هیڅ قسم نسخه نه په اصل یعنی عربی او نه په لاطنیی ژبه کې پیدا کیږی

الفرغانی چه د (۲۴۷ ه) کال نه وروسته د هیئت په فن کې پیاوړی پوه تیر شوی دی په اصطرلاب باندې ئې یو مفصل کتاب لیکلی دی او ده ددغه کتاب په یو باب کې د اصطرلاب په مرسته د هیئت ډیر مسائل حل کړی دی لکه چه ده ددې باب ابتداء او شروع د الخوارزمی په یو قول کړی ده.

او په رخاماتو او دلمر په ساعتونو باندې دده دیو کتاب ذکر ابن الندیم هم کړی دی خوارزمی د هیئت په مسائلو کې په عملی حیث بحث کړی دی لکه چه حمزهٔ اصفهانی د منجم ابو معشر د اقول نقل کړی دی چه الخوارزمی د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د ولادت په خصوص کې دستور و د قرآن څخه د احقیقت ثابت او ښکاره کړی دی چه دده راتلونکی ژوند به دیو پیغمبر په حیث وی.

الخوارزمی د مامون په حکم د نورو منجمانو سره په ګډه د نړۍ او د افلاکو د نقشو یوه مجموعه (اطلس) هم جوړ کړی دی او غالب ګمان دادی چه دا به د الخوارزمی هغه صورة الارض نومی هغه کتاب وی چه اطالوی پروفیسر نلینو (Nallino) په ایطالوی ژبه ترجمه کړی دی او ده کتاب التاریخ نومی یو کتاب هم تصنیف کړی دی چه دغه کتاب د مسعودی او طبری د تاریخونو ماءخذ دی.

الخوارزمی د هیئت د علم څخه په ریاضیاتو کې هم ډېرې جګې کارنامې لری دده کتاب الجبر و المقابله یعنی د جمعې او مساوات د حساب طریقه چه نن دا ټول علم په دې نوم یا دېږی او د «الجبرا» توری په جګ آواز ددې خبرې اعلان کوی چه دا یو عربی نوم دې.

د الخوارزمی د دغه کتاب لومړی جبرا د اسپین د مرکز طلیطلی دیو نیورسټی یو ډکریمونی نومی عیسائی طالب ترجمه کړه او ده نه وروسته دغه کتاب (ایف دوزن) په انګلیسی ژبه ترجمه او یوه ډېره ښه مقدمه ئې ورباندې ولیکله او په (۱۸۳۱ع) کال کې ئې په لندن کې چاپ او خپور کړ، سر طامس آرنلډ ددې کتاب په خصوص کې لیکلی دی چه د الخوارزمی جبر او مقابله ډېر مرتب او آسان کتاب دی او دا ځکه چه له ټولو څخه لومړی دی په دوهمه درجه مساوات بحث کوی او دینه وروسته د جمعې او تفریق او ضرب او تقسیم د ابتدائی طریقو ښوونه

کوی او له دې بولو څخه وروسته هغه مسایل بیانوی چه هغه د سطحی د کچ او پیمایش او د جایدادو نودویش او تقسیم او میراث اوفقهي قانون سره ربط لری په دې کتاب کې عام قانونی مسایل ذکر شوی دی چه دغه مسایل دلو مړی درجې مساواتو نو سره ربط لری ، که څه هم دامسایل په ابتدا کښې ډېر ګران او مشکل معلومیږی لیکن دغه مسایل ئې داعدادو د مثالونو په ذریعه ډېراسان کړی دی په دې کتاب کې هغه دوهم باب ډېر اهمیت لری کوم چه د دو همې درجې د مساوات سره ربط او تعلق لری او د دې دوهمې درجې د مساوات دحل مفکورې تر (١٦) پېړۍ پورې دریاضی اوساینس دپوهانو په منځو کې رواج درلود ؛ برسیره پۀ جبر اومقابله خوارزمی په حساب کښې هم یو جامع کتاب لیکلی دی چه ددغه کتاب لاطینی ترجمه په دی نومیرو انډیکو (Denumiu indico) نوم یادیږی په دې کتاب کې خوارزمی داعدادو په اصلیت بحث کړی دی او دده له دغه بحث څخه دا حقیقت څرګندیږی چه د مسلمانانو په منځو کې اعدادو یوډېر زیات آسان او داراز مختصر صورت در لود چه په نورو خلکو کې ئی چا نظیر نه ولیدلی او دغه شی داعدادو اصلی صورت ؤ.

دصفر استعمال هم یوډېر مهم کارؤ چه دا کار هم د مسلمانانو اختراع وه دصفر دپېژندلو نه وړاندې به خلکو اعدادپه مختلفو جدولونو کښې لیکل او دا کار ئې دې د پاره کاوه چه په دې ترتیب هریو عدد به خپل خپل مخصوص ځای کې ولیکلی شی اوپه لاطینی ژبه کښې داطریقه په ای ، بی کس ، (A'bocus) نوم یادیږی او دې طریقې په اروپا کې ترلسمې پېړۍ رواج در لود، په کوم وخت کې چه جربرټ جس اسپین ته په سفر ولاړ او په اسپین کې ئې د مسلمانانو د علومو مطالعې وکړی او بیرته اروپا ته راغی. نوصفر ئی اروپا یانوته ورمعرفی کړ چه نن داطریقه په اروپا کښې یه (الګورتهم) نوم یادیږی او دغه نوم هم دالخوارزمی مسخ شوی نوم دی.

په عربو کې دصفر استعمال له ډېر پخوا څخه رواج در لود او عرب ده ته صفر یعنی خالی وائی اوخالی ورته ځکه وائی چه صفر په یودارازځای کښې اینبودلی کیږی چه په هغه ځای کې بل کوم یوعدد نه وی .

چه بی دیدنه بل منطق برهان دلیل نه منی — هغه مجنون یمه کومه د لیلی خبرې
په محبت یمه ژوندی د عشق درسونه لولم — د کوه طور شمعې ښکاره کړی دموسی خبری
خوږی آرزو یمه وینې کړی داناري وهمه — مینی او عشق مې په هر ځای کړی رسوا خبری
ماچه دحسن په محفل دعوه دمینې کړی — سره پر هارونه مې کوی د تجلی خبرې
دشاعری په هنګامو می لوی واړه خبر دی — په زړه دردمند کوم په عشق کښی دوفا خبرې

ای پښتونه ..

ای پښتونه ستا په حال باندې ژړېږم
په زړګی باندی قلم قلم غوڅېږم
لکه شمعه بی انګاره ویلی کېږم
دسپند هسی مجمر باندی سوزېږم
چه دی وینم په دار نګه خوار وزاره
دد ښمن په خوله روان په کره لاره
ولی ولی ددښمن په خوله ولېږی
ولی ولی دد ښمن په لاس جنګېږی
دمری غوندی پیسو باندې خرڅېږی
په خپل خیرو شر به کله وپوهېږی
فکر و که ځان که پوه په خیرو شر
لاتر څو به ئی ته داسی کور و کر
دښمنان دې جنګوی د ځان د پاره
روان کړی ئې په غلط او کږه لاره
په خپل ژوند کښی همیشه ئی ناقراره
خپل وطن کښی تی یی واك او بی اختیاره
لاتر څو به ته احتیاج او بل ته ګوری
تیر وی به لاتر څو دا ستوغې سپوری
ستا حیات به وی تر څو داسی بی خونده
مرګ بهتر دی په سل واره له دی ژونده

خپل غیرت او ننگ دنیا ته کړه څر ګنده
ځان آزاد که دپردو له قید و بنده
غورو که د خپل ځان دځان په ویر شه
د بل مه منه پیر ی په خپله پیر شه
دبل چا حکم منت ته مه زده غاړه
بل له مکوه جنګو ته ځان و ژاړه
دپر دوله اسارته ځان و نغاړه
ملتو نه د دنیا آزاد شوه واړه
ته ترڅو به ئی بی سرا و بی سامانه
ناخبره هم له ځان هم د جهانه
دښمنان غواړی چه تا ټو ټه کړی
دنفاق په بد مرض کښی دی اخته کړی
خپل مفاد دپاره تا د لاس اله کړی
ستا وطن واخلی او بل ته ئی حواله کړی
په بیسو او په سپینه خوله دی نیر باسی
د ټګۍ په جال کښی تار الا ندی باسی
په دنیا کښی ستا ښکاره زور او قوت و
په هرچا باندی غالب دستا وحشت و
په څه شان ستا پښتنی شان و شوکت و
په دښمن پسی دی هر خوا ته لعنت و
نن په شتابا تدی تعد اظلمو نه کیږی
وطن ستا حکم دبل پکښی چلیږی
پاڅه پاڅه په ټینګ عزم او زهمت که
منظم دی پښتنی خپل ملیت که
مهیاد خپل صحیح ژوند موقعیت که
پښتنی جوړ خپل وطن کښی حکومت که
په خپل مټ ورك دوطن نه دښمنان که
خپل وطن کښی جوړ ازا دپښتونستان که

«له اتحاد مشرقی څخه»

ښاغلی « لونگین »

دامید غوټی

پښتو نستان دپښتون ژو نددی خلک خپل ژوند په پیسو کله خرڅوینه عجب مخلوقات دی، عجبه دنیاده، اوعجبو رنگونه لری، څوك دتخته په ډاگ ولی اوڅوك دفلاکت نه سعادت ته رسوی، څوك دسعادت دمیو جامونه لاس په لاس کوی اوچاته دخپلو وینو جامونه نیسی هغه دورایه داسمان دلمنونه دنیك بختی لمر راوخوت اوپه ورو ورو دامید غوټی سپړی سپینی شغلی ئی د نورانی مخه خیژی اوهری مځکی ته په خپل وار رڼا شیندی وار په وار موجودات راویښیږی اوهرڅوك منزل مقصودته درسیدو هاند کوی وختی ویښ شوی ورسیدل اوچه راویښیږی روانیږی اوزیار کوی چه ځانونه دژوندانه معراج ته ورسوی.

وگوری ء لری نه دپښتون دمرام کاروان راروان دی اوخړ گردئی خیژی، که څه هم دکاروان په خوا کښی دوینو سیلاب بهیږی خویره دسعادت متاع ئی هم بار کړی ده دډیرو لوړو ژورونه تیردی اوصرف نیت اومراد غواړی، یودبل پسی ددنیا لوی اوواړه قومونه ازاد شول خویره دکومی ورځی نه چه پښتنودخپلو اکی مجاهده نښلوی ډیر منځ گړی تر بوران شوی اونه غواړی چه دا بد بخته قوم هم چیرته دقونو په قطار کښی ودریږی اودامید غوټی ئی گلان وسپړی.

نن که پښتانه پښتونستان غواړی داهغه حق دی چه د دنیا نورو قومونو وختی غوښتی او اخیستی ئی دی.

دښمنان کله پښتنو ته دمیا ملا په نامه او کله لکه مکر جنه ډمه دیو بل غیږی ته ځی اواشار تونه کوی رقم رقم رنگونه ښیی او قربانی گانی کوی پیسی مال دولت لگوی چه یره پښتانه ددی لاری نه واړ وی مگر په دی هم نه پوهیږی چه یو انسان دځان دمعالجی اوژوندانه دپاره خپل هرڅه لگوی اودمرض نه ځان ژغوروی. پښتانه غواغویان نه دی چه گوندی په پیسو خرڅ اوقربانی شی.

نن ددنیا په بر او کوز گوډ کښی دعلم ومعرفت ډیوی لگیدلی اوهر چا خپل حق پیژندلی دی دادخندانه بلکه دژړا خبره ده چه غلیمان زمونږ ژوند په پیسو اخلی. دانه

منطق دی او نه فلسفه که‌دتاریخ پاڼی و گو رو معلومه داده چه پښتو نستان دبابا ادمه تردی‌دمه دپښتنو خاوره ده‌اوددوی ژوندون په‌همدی خاوره دی نود ژوندون اخیستل په بیسو غیر دتو کو مسخر ونه نور هیڅ شی نه دی او نه تری څه جوړ یږی خیر (کنز خو به هرڅه وائی خو که ملافاروق ئی‌ومنی) .

مونږ په جنگ اواز داوایو چه پښتو نستان دپښتون ژوند اوازادی ئی‌مشروع حق دی هیڅ طاقت اوقوت پښتانه ددی عزم نه‌نشی‌په‌شا کولی اودتگی برگی پدی جا اونو کښې پښتون نه نښلی ځکه چه‌دادمرگ اوژوند سوال دی‌او پښتو نستان د پښتنو دامید غوټی ده‌دا غوټی به دپښتنو به‌وینو ډېر زر گلان وسپړی او خوږه میوه به و کړی

مینه د لیلی کله ور کیږی د مجنون ځنی

نه ځی تر قیامته بوی د توری د پښتون ځنی

لوی کاروان روان دی د دنیانه د عقبی به لور

مینه نه کمیږی د معشو قو د مفتون ځنی

راشیء د ښمنان دپښتنو مخکښی تیر شو یدی

صد چندئی قوی ؤ عقل و فکر افلا طون ځنی

داد استعمار او غلامی کر واړی لاړ لی

غږ د ازادی وږ له راځی نوی ژوندون ځنی

پام کوه دښمنه دغه خیال د ستا عث ښکاری

مړی چا گټلی دی تر اوسه د جیحون ځنی

نن چه تاله غوړه مړی خوله کښی در کوی څوك دی؟

ولی ځوانی مرگ خبر دارشه د مضمون ځنی

څوك چه‌په پیسو باندی خپل قوم ته خیانت کوی

بائی مرگ د توري دی یاخد ایږو دطاعون ځنی

راشه ای پښتونه لونگین دی‌غم کښی و گوره

ورځ په‌ورځ توریږی حال ئی بد دجگر خون ځنی

لنډۍ

هر قوم ځانته بیل عادات رسمومات او عنعنات لري همدارنګه هر قوم ځانته جدا ملي ترانې او نغمې وائي په پښتو ژبه کښې لنډۍ د پښتنو ملي ترانه ده. هره لنډۍ په پښتو ژبه کښې دمینې یوه ډېره خوشبو یه غنچه ده هر راز لنډۍ شته خو یره د هر مطلب چینه مینه ده.

د پښتو لنډۍ د پښتنو جذبات او احساسات ښیي. پښتانه چه په توره او شجاعت په هر میدان کښې بریالي دي خدایږو په جذبه او ډك زړه میدان ته ځي او لنډۍ وائي قوي جذبه او د ملک مینه څرنګه چه په پښتنو زلمو کښې ده هغو سره ئي پښتنې پیغلې هم لري لکه چه وائي:-

که د ځلمو نه پوره نشوه — فخر افغانه جنو کۍ به دي ګټینه

کله چه دیوه قوم جذبه دي حد ته ورسي نو هیڅکله داسي قوم غلام نشي پاتي کیدي زه به دلته دیوه پښتون زلمي او یوي پښتنې پیغلي سوال او ځواب په څو لنډیو کښې ولیکم.

پیغله: دشونډو سره شراب به در کړم — که د مور چله دې بریء راوړ مینه
ځلمي: سرمې له تانه قربانی دی — ځان به قربان کړم که وصال مي نصیب شینه
پیغله: که دی زما سره الفت وی — ماله جوړه دازادۍ راوړه مینه
ځلمي: یا به د مینې جوړه را وړم — یا به لوګي لکه پتنګ لو خړه شمه
پیغله: د مړوند خوب مې پري حرام دی — چه په جګړه کښې له دښمن تېښته کوینه
ځلمي: یا به بري وي یا به مړیم — په دغه پړیم چه قربان له تا نه شمه
پیغله: جانانه ځه د وطن جنګ دی — د پښتون ننګ دی په دښمن جوړ که تاختونه
ځلمي: دوطن جنګ ته مي ملا تړ دی — یا به سر بایلم یا به لا ندی کړم بر جونه
پیغله: که تښتید لي په شارا غلي — په تا حرام دی د سر کوشونډو سرونه
ځلمي: زه به د ښمن نه ولي تښتم — ما په زانکو د غیرت اوستي دي درسونه
پیغله: په تورو ټوك ټوك شي مړ مه شي — چه پر هارونه دي ګنډم خوله در کومه
ځلمي: که تښتید لي بیر ته را غلم — پښتون به نه یم نه به مور لوی کړي یمه
پیغله: ځان دوطن خدمت کښې مړ که — چه جنازه دي د اسمان ملائك وړینه
ځلمي: دوړ کتو به مي عادت دی — چه یا د پښتون یم پښتنوا له به ساتمه

د پښتون مغموم او بې واکه ژوند

محمد شریف (شریف)

دا چه هغه د کاڼو، لوټو، ورانه وی جاړه کلا او جونګړه ښکاری داد چا کور دی، اوف دلته هم بنیادم اوسی؟؟

آه داورانه تکه توره کنډواله چه آخوا اودی خواته ئې کټونه پراته دی داخوغوجل ده! په داسی ځای کښې خودسړی ساه ډېره په تنګېږی او سل ډوله مرضونه ترې پیدا کېږی.

داخلك لوی واړه، نر، ښځی چه اوڅ لغړ وږی، تېږی سر تور سر، او پلې پښی کرځی دا ددې کور او سیدونکی دی؟

اوف! و کوریء رنګونه یی څومره تك زیړ او خړپړ دی، زړی. زړی رینجاړې ئې په اوږو او ورنونو زانګی، نازك او ښایسته وجودونه ئی د ژمۍ یخنۍ تك شنه اود اوړی ګرمۍ تور کړی دی.

آه! پام و که، چه هغه وړو کی ماشوم سر تور سر، لڅې پښې، لڅ لغړ په غوا، وزو پسې روان دی او په یخنۍ کښې دیخنۍ دلاسه او په ګرمۍ کښې د ګرمۍ دلاسه زار خطا او لاله هانده او کړه هانده دی

هغه دی دهغه بل ماشوم په لاس کښې د ور بشو او جوارو ډوډۍ ده او څومره په مینه ئی خوری ګمان کوم چه په دې هم ښه ماړه نه دی.

آه! ددې خلکو دوړو، نرو، ښځو دیوه هم دتعلیم او تربیی پوره سر رشته نشته او ټول بی علمه ناپوه. بې خبره ډېر ساده او په طبیعی ډول ژوند کوی.

پهو! دا کور څومره بی نوره او بی رڼادی دلته خو بالکل تورتم دی.

داښایسته زلمی ګوری، چه څومره پریشانه دی اودخپل خیر اوشر نه ناخبره دی.

دغه سپین زېری څومره مغموم او ساده ډوله ښکاری، هغه سر توره اومایوسه پیغله په څومره حیرت او حیا یوه خوابله خوا ګوری او نورا نی څېره ئی د غربت ګردو نو پټه کړی ده اوف خدایه! داڅومره بې واکه اومغموم ژوند دی داخلك نه دځانه خبر دی او نه دجهانه نه پوهېږم ددې بی علمۍ، ناپوهۍ، بی خبرۍ نتیجه به څه وی (؟) ددوی حالت خو نور ډېر تباه او برباد دی. آه ومې پیژاندهو! ومې پیژاند چه دادپښتون ټبر دی اودا دپښتون کوردی یعنی زما کوردی زما!

خو څوك دی چه ددې کور او ټبر غم و خوری او په دې بدحالت یی لږ وژاړی.

هو درحم او عاطفی خاوندان به په دې حال ضرور وژاړی ځکه چه!

ددې ژړا اجر ډېر لوی دی اوددې خورانو په حال زړه سوی ډېر لوی ثواب لری.

ښاغلی روشن «وردك»

پاکستانی نشریات

څرنګه چه تل حق غالب دی دلوی څښتن په فضل د پښتونستان حق آواز او د پښتونستان حقانه آرزو هم دومره تاثیر غورځولی چه یوی خواته ئې د ټول جهان توجه جلب کړی او بل پلوته ئې د پښتنو په زړونو کښې دومره محبت اچولی چه یو مخ دې مقدسې مبارزې ته په ټول توان او ټول قوت حاضر شویدی - ددې آزادی پرستی جوش او دې ژوند و احساساتو پاکستانی ایجنټان دومره وار خطا کړی چه نه تورو ینی نه سپین خوهری خواته لاس اوخوله اچوی او په هرخس اوخاش پوری منګلی بندوی مګر له نیکه مرغه داسی څه لاس ته نه ورځی چه ددوی دا نامشروع درد پری دواشی دا بدبختان دوروماشومانو په شان خیال کوی چه حق په تفرقه اچونکو تورو او دروغو خبرو او پوچو نشریاتو پټیدلی شی نوڅه کوی ؟ یوې خواته ئې داسې بی شرمانو ته چه ملي شرف او قومی حیثیت په څو کلدارو خرڅوی دمهر جامی ور آغوستی شپه او ورځ دمنافقت رمبادی وهی او له بلی خوا دلارنسانو په دفترونو کښې مجلو او اخبارونو ته اسلامی رنګ ور کوی او د پښتونستان په علاقو کښې ئې تیټول غواړی چنانچه په دی ورځو کښې یی دې بی شرمانه نشریا توته دومره زور ور کړی چه شپه اورځ کاغذونه توروی او د بادپه خوله ئې ور کوی مګر څرنګه ئی چه په دی تولو نشریاتو نظر غور ځوو د تعجب خبره داده چه دا کم بختان په هغه تولو کښې خپل دینی نقصانات او اخلاقی معایب درست په مونږ پوری تپل غواړی حال داچه په دې نه پوهیږی چه د پاکستان او افغانستان حقیقت دلمر په شان هرچا ته څرګند دی نو لمر هیڅکله په دوه ګټو پټید لی نشی یو اخی ځان شرموی .

له دې جملې نشریاتو نه ئی یوه رساله چه ما اوس اوس لوستی ده د (اسلام شخصی حکومت نه منی) په نوم نشر کړیده مګر تاریخ نه لری دلیکونکی نوم او د نشر ځای یې هم نه دی معین کړی خو دمضامینو نه ئې معلومیږی چه سراسر دهغو نظریاتو په اساس چه لارنس به تل په عالم اسلام کښې تری کار آخیست متکی ده په دی رساله کښې یې دچاریارو کبارو او نورو اسلامی خلفاؤ د کار روایی څو نمونی دمثال په ډول ښودلی

او بیایی دهغه په اساس دافغانستان برحکومت داسلامی حکومت دنقطه نظره ځینې تنقیدونه نیولی ـ نوداده چه اوس ددې مجلې دمضامینو په شااوخوا کښې خپل توضیحات او نظریات ورانديې کوم ...

پدې کښې هیڅ شك نشته چه په رښتیا اسلام شخصی حکومت نه منی داچه څه ر نکه ئې نه منی اوزد بحث لری البته نول مسلمانان په دې خبره بوره پوهیږی حاجت زمونږ بیان ته نشته مګر داخبره باید واضح شی چه شخصی حکومت څه ډول وی ؟اوددې رسالی مضامین دپاکستان حکومت ته راجع کیږی که دافغانستان ؟ که چیری دافغانستان حکومت شخصی حکومت بولی نوداسر اسره غلطه خبره ده ځکه دافغانستان حکومت خوتول جزائی اوحقوقی چاری دمحمدی (ص)شریعت ته سپارلی اوقانونی چاری یې دملت نمایندګان اجراء کوی چه په هغه کښې هیڅ یوشخصی حکم چلیدلی نشی اونه د یوه خارجی اوداخلی شخصیت په حکم څوك بندی کیدلی شی خوڅه چه دخلقو رضاء اودخدای او رسول (ص) اوامروی هغسی رفتار کیږی نوداسی حکومت هیڅکله دمسلمانانو په نظر شخصی حکومت نشی کیدلی .

شخصی حکومت خوهغه ته وایی چه ګور نر جنرال یعنی لوی وا کد اریې د یوه شخص دامر تابع وی اودهغه سره یې دوفاداری قسم خوړلی وی اوصدراعظم ئی هم دهغه شخصی نوکروی اویوالحی دخپل بادار اوامر اجراء کول غواړی . .

شخصی حکومت خوهغه وی چه دلوی خدای (ج) اورسول (ص) او امریې دبا دار داوامرو په مقابل کښې یومخ ترشا کړی وی یعنی دشریعت په ځای دهغه مرضا چلوی .

شخصی حکومت خوهغه ته وایې چه څوك تش دآزادی نوم واخلی سم دلاس ئې دبا دار په امر توری جیلخانې ته واچوی اوخلاف دقانون نه یوالحی دظلم اواسبداد له لاری نه ورسره رفتار کوی .

شخصی حکومت خوهغه وی چه نول ملت دخدای اورسول (ص) شریعت غواړی اوپه کرورونو افراد دآزادی حقوق غواړی ولی هغه نول دیو ه شخص په نظر یه پوری اړه ولری اسلام هغه حکومت ته شخصی حکومت وایې چه دینی اومذهبی اعمال یې هم داسلام له لاری نه مخالف وی یعنی هغه حکومت چه دمکی په ځای یې لندن غوره کړی وی اودخدای (ج) دخق

قانون (قرآن) پەځای پەلندن کښې جوړ شوی قانون پەملك کښې چلوی اودحضرت محمد(صلعم) پەځای غلام احمدپیغمبر بولی اجتماعی اوملی حکومت نشی منلی نوځرنګه چەددې اعمالو نظریات یواځې پەځو کسواشخاصو پوری اړەلری حکومت یې هم شخصی حکومت شو نودادی دشخصی حکومت تعریف اودادی دشخصی حکومت نمونی باقی داقضاوت چەدانمونی دپاکستان پەحکومت کښې ځرګندیدی که دافغانستان؟ ګرانو لوستونکو تەسپارو اوس بەددې رسالی پەځینی مضامینو نظر وغور ځوو اویوه یوه جمله به یې یەلاندی ډول تحلیل کړو .

داول مخ لمړی جمله په دې مضمون لیکل شویده (داسلامی اصو لوپه رڼا کښې داخبره ښکارده چه اسلامی حکومت دیوه مسلمان قوم دپاره د الله تعالی یو لوی نعمت دی اوهر کله چەدا نعمت دالله تعالی دطرف نەپەیوه ملك کښې مسلمان قوم ته ورکړی شی لەدې وجه نەاسلامی حکومت جوړول دمسلمان قوم پەرائی باندی موقوف دی- مطلب داشو چه که دمسلمانانوپەرائی اوپه رضامندی سرەپه ملك کښې قایم شی نوهغه یوجایز حکمران اوجمهوری حکومت ګڼلی).

داخبره بالکل صحت لری او مونږ هم پری تصدیق کوو چه اسلامی حکومت دیوه مسلمان قوم د پاره دالله تعالی لوی نعمت دی خو هغه اسلامی حکومت خو باید داسی اسلامی حکومت نەوی لکه دپاکستان موجوده حکومت چه پەمسلمانانو باندی انګریزی قانون چلوی، اودچماتو پەځای ئی شراب خانې اودچکلو بازارونه پرانیتلی وی د افسوس خبره خوداده دپاکستان ملت پەلوی اکثریت کښې مسلمانان دی خو دحکومت واکداران ئی دخدای لەاو امرونه خلاف بلی خواتەراکاږی بیا وائی (چه اسلامی حکومت جوړول دمسلمان قوم په رائی باندی موقوف دی) ددې خبری سوال باید مونږ ددوی نەوکړو هر کله چەپه دې باور لری چه اسلامی حکومت د مسلمانانو پەرایې باندی جوړیدی شی نوآیا دپاکستان موجوده گورنر جنرال ولی پاکستان نه، بلکه دپرنګیانو پاچا مقرر کړی او د مقرری فرمان ئی دلندن دشاهی مانۍ نەصادر شویدی.

ددې مخ په بله جمله کښې وائی (کەچیری یو مسلمان محضی د خپل ذات دپاره په

زرو زیاتی حکومت قایم کړی نو دې ته شخصی حکومت ویلی شی اودا قسم حکومت دمسلمان قوم دپاره قابل قبول نه‌دی او نه په مسلمانانو باندی‌دداسی حکومت تابعداری او امداد واجب دی)

ددی جملی مثال هم‌داشو لکه دپاکستان گورنر جنرال چه‌ملت ئی نه منی خودی دخپلو لندنیو بادار نوپه حکم اودهغوی په زور حکومت چلوی بیائی ددوهم مخ‌په دوهمه جمله کښی لیکلی چه (داسلامی عقیدی مطابق دحکومت دپاره شرطونه دی که‌چیری هغه پوره کړی شی‌خوښه. او که نوی نوبیاهغه کس دملك یوجائز حکمران نشی کیدی) موږ باید بیاپه دې کښی ددوی نه‌سوال وکړو چه آیا داسلامی شرطونو مطابق دپاکستان گورنر جنرال یوجایز حکمران کیدلی شی؟ آیا هغه شرطونه دادی چه‌د کفارو دقانون په‌مقابل کښی محمدی (ص)شریعت ترك کړی؟ او شراب خانی پرانیزی؟ آیا هغه شرطونه دادی چه دکفارو سره ددوستی قسمونه وخوری؟ اوتول واکداران ئی‌د کفارو صادق خدمتگار مقرر شی؟آیاهغه شرطونه دادی چه‌بې موجبه په مسلمانانو جیاونه ډك کړی؟ او بائی په کورونواوورو ماشومانو بمباری کوی ؟ اوپه نتیجه کښی دخدای قرآن‌هم‌په گولو سوری‌سوری کړی؟ داشرطونه‌خوپه‌اسلامی‌مذهب کښی نشته مگر معلومیږی چه‌دپاکستان [redacted] حکومت دلندن نه‌له خان‌سره راوړی قانون ته(نعوذبالله) اسلامی وایی اوعوامو چه دپاکستان اوپښتونستان ملتونه په‌دې وسیله وغولوی او خپل دپر نگیانو نماینده حکومت داسلامی حکومت په نامه پرې وروتپی خودوی باید پوه شی چه داکار امکان نه لری او ددوی دافریب به ډیر زر تولوته ښکاره شی .

ددریم مخ په دوهمه جمله کښی ئی داسلامی حکومت دپاره دچار یارو کبار رو خلافتونه تمثال راوستی اوویلی ئی‌دی‌چه‌د(رسول‌الله صعلم) نه‌وروسته دابابکر صدیق (رض) صاحب انتخاب داصحابو کرامو په خوښه‌اوپه‌رائی سره‌شوی‌ؤ' یعنی‌پس‌دمشورې اوتبادله‌خیالات نه‌داصحابو رائی په‌خلافت دابابکر صدیق(رض) قایمه شوه دده په‌خلافت اصحابو اتفاق وکړ پس‌دابابکر صدیق(رض) نه‌حضرت‌عمر فاروق(رض) اوپس‌لدینه‌دحضرت عثمان (رض)اوله دې نه پس دحضرت علی کرم الله وجهه انتخبات داصحابو کرامو په‌رائی اوپه خوښه سره شوی‌ؤ.

په‌دې تمثال کښې بیاخپله دوی ته‌سوال راجع کیږی چه‌آیا په‌دې صورت کښې نو دوی لمړی گورنر دچاپه خلافت مقرر شو اود کومو مسلما نانو له خوا دده په خلافت رائی ور کړی شوی؟ اوبیا ناظم الدین دچاپه امر مقرر شو اوچائې په‌خلافت اتفاق‌و کړ همدا رنگه غلام محمد او سنی گورنر جنرال د کو مو مسلما نانو له خوا انتخاب شو؟ چه‌لاسی‌ئی دپا کستان دحکومت دچارو واگی په‌لاس کښې ونیولې‌دغه‌مثال زمونږ دهغو اقوالو تائید کوی کوم چه‌وغواړی. د ځواب‌په آخر کښې مو لیکلی یعنی دپا کستان موجوده حکومت خودهغه اسلامی حکوماتو سره چه‌دوی سند نیولی برابریدلی نه‌شی اونه‌ئې گوز نران له هغه خلفاؤ سره برابر والی لری ځکه دهغه خلافتونو کعبه په مکه معظمه کښې وه اوسلطنت یی دخدای پیغمبر محمد (ص) ؤاو قانون ئی‌سماوی‌ؤ او د لوی خدای اونبی صعلم او امرئی داسلام په عالم کښې روان کړی وو دوی نوچه دانگریز په‌خلافت اومیراث ناست دی اودسماوی قانون په‌ځای هم لندنی قوانین چاوی اوخلفائی هم دهغه ځای نه‌انتخابیږی نوالبته دهغه وخت نه ئې اقتباس کړی او کعبه به‌ئې لندن ته هم راوستی وی که نوی نو ددې مثال راوستل دد وی‌له طرفه په دې موقع کښې بل‌څه دلیل لری ؟

په‌همدې جمله‌پسی وروسته‌په‌بله‌جمله کښې دلیل راوړی. (کله‌چه حضرت عمر بن عبدالعزیز دبنې امیه ؤ دشخصی حکومت واکدار شو نود دستور مطابق خلق هغه سره دوفاداری‌دوعدې کولو دپاره راغلل نو حضرت عمر بن عبدالعزیز ورته وویل چه اې خلقو! ما تاسی له دقسم وعدې کولو نه آزاد کړی ستاسو خپل اختیار دی څوك چه‌ستاسو خوښ وی نوپه خپلی رائی سره هغه دملك خلیفه منتخب کړیء د حضرت عمر صاحب په دې اعلان باندې خلق ډیر خو شحال شول اوداللہ تعالی ډیرحمد او ثنایې وویله چه هغوی ته‌دخلیفه جوړولو خپل قومی حق او اختیار حاصل شو. چونکه په دغه وخت کښې د حضرت عمر صاحب نه بل څوك بهتر سړی نه ؤ نوقوم په خپله رضامندی او رائی سره هم دی خلیفه منتخب کړډیره ښه شوه چه داخپله رویه دوی پخپله غیر اسلامی معرفی کوی ځکه مونږ تل د پاکستان واکمنوته ویلی چه د پښتونستان اوه میلونی ملت د خپلو حقوقو آزادی غواړی دا چه په زور

او ظـم ور سره مقابله کـوی او یایي په جیلونو کـښی اچوی غیر اسلامی رویه ده او بلـکـه یوشخصی اوخود غرضی استبداددی مـگـر دافسوس خبره خوداده چه دابدبخت پاکـستانی واکـمن دي ته هیڅ نه ملتفت کـیږی او دغه چه وائی پخپله پري عمل نه کـوی په ځای ددي چه حضرت عمر صاحب غندي اسلامی ملت ته درائي او آزادی حق ور کـړی او خپـل حـکـومت جوړولو ته موقع ور کـړی قتل عام پری جوړوی نو په دي شرط څرنـگـه ورته اسلامی حـکـومت ویـلی شو، داوم اواتم مخ په جملو کـښی ئي د بنی امیه ؤ د شخصی حـکـومتونو زور او ظـلم چه په امـام صاحبانو او عالمانو او روحانیونو او نورو مسلمانانو ئي کـړی ؤدځو مجدو دو واقعاتو د ذکـر په استنادئي دلیل راوړی اوبیائي ویلی چه په (کـابل) کـښی هم پهمدي صورت دزور، ظلم، جبر حـکـومت دی عالمان. سیدان. ملایان وژلی شی او بندی خانو ته لیـکـلی شی

داجمله هم دتعجب وړده ځـکـه تول عالم ته ښکـاره ده په چه افغانستان کښی تول مجرمین دشرعی محاکمو په امر تر جزالاندی راځی یعنی څه چه دخدای کـتـاب وا ئی هغسی ورسره رفتار کیږی هغه دپاکستان حـکومت دی چه عالمان اوسیدان لـکه مجاهد خان عبدالغفار خان، قاضی عطاءالله خان، مولانا مودودی خان، مولانا علامه مشرقی، دا کـتر خان صاحب، عبد الصمد خان، شهزاده عبدا لـکریم خان، سیف الرحمن خان د چترال همـهمه خان چترالی دذکوری پـیر صاحب اونور څورلس زره داسی مـجا هد ین او روحانیون ئی په جیلونو کښي اچولي اوهر څوچه عالمان اودملت لویان د ازادی او شریعت روانولو سوري وهی دوی ئي نه منی اودبر چي په څو که ځواب ور کوی.

دنهمی صفحی لیك ته ئی یوعنوان ور کړی چه (د کـابل شخصی حکومت یوقهر دی) بیائي لاندی یوڅو گډی وډی لـکه چه دپاکستان دحـکـومت خاصه ده په افغا نستان پوری لیکـلی. چه داده مونږ ئی اول دعنوان بیا دمضمون په شاو خواه کښی خپل بحث ته دوام ور کوو. دافغا نستان حـکومت خوچه دوی قهر بولی په خپله نا پاکه آ ئینه کښی ورته گوری او البته ددوی په نظر کښی به قهر لیده شی ځـکـه او به داوردپاره قهردی همدار نگه کـفر اواسلام داور اواوبو مثال لری نونن سبا چه دوی غیر اسلا می رویه غوره کړی اوخاص دخپلو بادارانو پیروی کوی نه یوالحی دافغانستان اسلامی حـکـومت بلـکـه تول اسلامی حـکـومتو نه به ئی چه ددوی دخلاف شرعی رویی اوبد عمل مانع گر زی په نظر

کښې مخالف ورځی خوچه‌دومره ئی‌هم ویلی‌وی چه قهر خودی ولی دبد کارانو دپاره گنی تولو خلقو ته‌ځر گنده ده چه دافغا نستان حکومت خوپه تولو معنی یو اسلامی حکومت‌دی اود مسلمانانو دپاره یورحم دی. ځکه دتول اسلامی ملت له خوا په‌خپله خو ښه جوړ شوی اوتول ملت ته‌په کښی هر راز حقوق حاصل دی. په تول ملت کښی محمدی(ص)شریعت‌روان دی. نه‌ئی خپلواك پادشاه دچاسره‌قسمی‌دی او نه‌ئی‌صدر اعظمان اووزیران له‌بلی کارخانی نه‌راوتی دی.قهر خود پاکستان حکومت‌دی . چه‌داسلامی ملت سره غیر اسلامی رویه کوی اودقرآنی اوامرو په‌ځای پردی قانون پری چلوی، قهر خودپاکستان حکومت دی چه‌دبادارنو نقشی ئی‌په لاس کښی آخیستی د اسلام تر پردی لاندی ئی‌په مسلمانانو تطبیقوی قهر خود دوی گورنر جنرال دی. چه دو لس قسمه انگریزانو ته وخوری اوبیانو دمسلمانانو چوکی په زور اشغال کړی . قهر خود دوی غیر اسلامی رویه دهچه شراب خانی او دخکلو بازارونه جوړدی، قهرخود دوی‌استبداددی چه‌اسلامی ملت نه‌اوس دژوندانه محصول هم‌آخلی، قهر خو قیوم کړی دی چه‌غیر حق په‌پښتنو مسلمانانو بمباری کوی اود بلا غندی پری نازل شوی . قهر خوهغه منافقان دی لکه‌دپاکستان د حکومت واکداران چه‌مسلمانان داسلام پرنامه تپر باسی اودخپلو بادارانو دسیاسی نقشو قربانی ئی گرزوی ، افغانستان خو دلوی خدای‌په فضل ددې‌تولو آفتونو اوعذابونو نه محفوظ‌پاتی‌دی‌خدای‌دې‌دپاکستان اسلامی ملت هم داسی اسلامی حکومت کړی اودپښتو نستان ملت دې هم ددوی د ظالمو استعماری منگاونه خلاص کړی.

دهمدی‌عنوان په‌آخر کښې‌ئی‌په‌لسم مخ کښې‌لیکلی‌چه(دافغانستان حکومت په‌توله دنیا کښې یو کم‌زوری اوپریوتی حکومت دی اود اسلامی روایا تو احترام هیڅ نه کوی دهو ښیا رانو متل دی(جواب جاهل سکوت) یعنی دهوښیا رانو خاصه ده‌چه دداسی‌بې‌شرمانه وینا ؤ په مقابل کښې‌پته‌خوله کښینی داخبره مونږ ته تاریکه ده‌چه دوی کوم راز حکومت ته کم زوری وائی او کوم راز مترقی بولی یعنی د کومو اوصافوله‌مخی‌دهغوی په‌امتیا زاتو قائلیږی ؟

زمونږ به عقیده له‌دې نه‌ښکاره ده‌چه دوی آزاد حکومتونه کم‌زوری‌بولی اوغلام

حکومتو نه‌ددوی په لحاظ چه انگریز غوندی حامی‌لری باقوته گنمی که داسی نوی نوافغا نستان چه آزاد دی او د دوی بادارانو ته ئی هم خپل زور ور ښکاره کړی خرنگه کمزوری بولی اوپه عوض کښی خپل حکومت چه په تولو حکو متونو کښې یوشر میدلی حکومت دی متر قی بولی داخو ښکاره حقیت دی چه نن سبا یواځی دپا کستان حکومت دی‌چه دانگریزانو غلام حکومت پاتی شوی اویواځی دپا کستان حکومت دی چه تراوسه پوری دهغه بادارانو په‌ډول رقصیږی .

یواځی د پا کستان حکومت دی چه ځان مسلمان بولی خو داسلامی روایا تو پیر وی نه کوی داچه دافغا نستان حکو مت داسلامی روایا تو نه مخالف معرفی کوی داسی مفهوم لری لکه پك چه جوړ سړی ته‌وائی(دسردې بوی لکی) .

بیت :- عیب خود رابد نه‌بیند درجهان
باشد اندر جستن عیب کسان

ترجمه:-بدسړی خپل عیب نه وینی جهان کښی
همیشه دبل دعیب کوی ځیړ نی

په‌یولسم مخ کښی ئی‌مثال راوستی چه (ابو موسی الشعری)چه‌دبصری گور نرو ودحضرت عمر فاروق ځامنوته ئی دتجارت دپاره دسر کاری خزانی یوڅه پیسی پور ور کړی چه گټه ئی‌ستاسی او اصل ئی بیرته تحو یل کړی حضرت عمر فاروق چه خبر شوله دی کبله چه‌دنورومسلمانانو سره دارعایت نه‌ووشوی اصل‌او گټه ئی‌دواړه بیرته خزانی ته تحویل کړه مونږ دې‌خبری ته پوره حیران یوچه دپا کستان موجود حکومت نوولی د هغه اسلامی پیشوایانو هغه عادلانه رویه کوم‌چو په‌خپله ئی بیانوی نه غو ره کوی ؛ چه‌دهغه په ځای د هغوی د دښمنو دمخالفی رو یې پیر وی کوی یعنی دوی و لی دپښتنو حقوق پښتنوته نه‌سپاری‌ددې ولی دپښتنو هغه ملك چه استعمار چیانو لوټ کړی اوپیسی ئی‌هم ددوی په خزانه کښې دمیراث په‌ناهه موجودی دی دهغه د گټو سره پښتنو ته‌نه ور کوی ؟ ددی‌خبری‌نه ښکاره شوه‌چه دوی خودیوروپ معراج ته ځانونه رسیدلی بولی داخوشی دخولی خبری‌دی اویواځی په‌مونږمسلمانانو اوزمونږپه اسلامی دین ملندی وهی که داسی نوی نو داد منا فقت خبرې به‌ئی‌چه‌د عمل سره ئی هیڅ نه تطبیقیږی نه کوی اوله دې آیه‌شریفه نه به ویره ور غلی وه .

«ومن الناس من یقول آمنا بالله و بالیوم الاخر وماهم بمؤ منین ه یخدعون الله والذین آمنوالله و مایخدعون انفسهم و ما یشعرو ن ه فی قلو بهم مر ض فزادهم الله مرضا (ج) ولهم عذاب الیم بما کانو یکذبون ه

ترجمه :- اوځینی داسی کسان وی چه وائی په خدای اود آخرت په روځ موایمان راوړی، اوحال داچه دوی مؤمنان نه وی دوی خدای اومؤمنانو ته فریب ور کول غواړی اودوی یواځی خپل ځانونه غولوی اونه پوهیږی، ددوی په زړونو کښې مرض دی پس پاك خدای زیات کړی ددوی دامرض اوله دوی سره ددوی ددرغو ویلو په سبب درد ناك عذاب دی .

دادی چه خدای دحقې لاری ملګری دی نه مونږ غولولی شی نه زمونږ په دی حقوویلوملنډی وهلی شی . ددی آیة شریف په قول یواځی په خپل ځان ملنډی وهی او بس.

په دولسم او دیارلسم مخ کښې ئې لیکلی چه (د افغانستان پادشاه په غیر د قوم د رائې اخیستلو نه په تخت ناست دی) «لعنت الله علی الکاذبین» اې بی شرمانو ټول عالم ته ښکاره ده چه په افغانستان کښې داسی یو پادشاه چه د قوم په رضانه وی اوداسلامی طریقی نه برخلاف مقرر شی دوې شپی هم سلطنت نشی کوی که داسی نوی نودلته به هم دپردو ګورنرجنرالان نواب زاده ګان چودریان خان بهادران کښې خولی په چوکیو ناست وای اودلندن اوامرو ته به ئی انتظار لاره دافغانستان پادشاه یو پښتون دی اودخپل قوم په رضا اورغبت سره پادشاهی کوی هرفرد په دې ملك کښې ده ته بیعت کړی ګویا دقبولی اوداطاعت لاس ئی وز کړی دی ده هم د افغانستان دشوری سره دقانو ن اساسی له مخی دخدای په اطاعت د محمدی شریعت په ترویج ، دپښتنوا لی په ساتنه دمملکت په تمامیت عهداو پیمان کړی اوقسم ئی خوړلی هرچاته په خپله آئینه کښې مه ګوری مونږ غیرت اوایمان لرونه د کفارو غلامی منلی شواو نه د هغوی القاب ځان ته فخر ګڼو عجبه خوداده چه د کفارو غلامی دوی کوی .

اودوستان ئی مونږ بولی دقوم رضانه مخالف ددوی ګورنرجنرال مقرر یږی پیغور بیامونږ ته راکوی بمباری اوقتل عام دوی کوی . اوظلم زمونږ خاصه ګڼی ؟

(پاتی په ۳٤ مخ کښې)

دښاغلی «سیفی» ترجمه

مرغان او انسان

(۲)

د فیلمنګونو می مارغه مښو که ډیره اوزده وی چه په ځینو ځایو کښې ور څخه دلاس لږ ګی هم جوړولی شی- اودمارغانو د بڼکو څخه دپېشن اوز یبا یشی شیان هم جوړولی شی لکه چه درقاصوډیری نه آشناخولۍ دمارغانو دبڼکوڅخه جوړې کړی وی لیکن دبڼکو تجارت دډیر ومرغانو دنسل دور کیدلوموجب شولکه چه د دغه کار په اثر امریکا په ۱۹۱۳ ع کال کښې او برطانیه په ۱۹۲۱ کال کښې د(پلو میج ایکټ) نومی یوقانون نافذ کړ چه د دغه قانون په ذریعه دوی و کولی شو چه مرغان له دغې هنګامی تباهۍ څخه وساتی . دیونانی طب مقرراتو سره سم د ډیرو مارغانو غوښې دځینو مخصوصو مرضو نودیاره ګټورې وی دمثال په ډول د کوترې غوښه دلقوې دمرض دپاره ښه ده اود ګنجی جګردتبې دپاره مفید دی په چین او ملا یا کښې (پام سرپټ) نومی مارغه خپلی ناړی وچوی اوله هغو څخه دخپلو چو چیانو دپاره ځالۍ جوړوی او دغه ځالۍ دچین خلك په ډیره مینه خوری اودغه ځالۍ ډیره خونده وره او درو غتیا دپاره ګټوره غذا ګڼی زمونږ د کرهڼی اوزراعت دپاره هم د مارغانو

(د ۳۳ مخ پاتی)

په عالمانو اونورو مسلمانانو جیلو نه دوی ډك کړل دمستبد خطابونه مونږ ته کوی .

د کفارو پیروی دوی کوی داسلام نه مخالف مونږ بولی شریعت دوی نه منی دچار یارو کبارو مثالونه په مونږ راولی دبادارانو دغلامی کړی ددوی په غاړه کښی پاتی ده کم زوری مونږ بولی دیوپردی شخصی ترامرلاندی دوی حکومت کوی شخصی حکومت زمونږ بولی داسلامی قوم دآزادۍ مشروعه حقوق دوی غصب کړی د غاصب نسبت مونږ ته کوی .

(پای)

وجودډیر ضروری شی‌دی اودوی دفصل د کرلو څخه دلو کولو تروختهپورې دفصلونو خدمت کوی اودفصلونو څخه مضرحشرات خوری اوددې کارپه اثرفصلونه ددغومضرو حشراتودضرر څخه ساتی، پهاروپا کښې ځینی دا راز مارغان شته چه هغوی مضر حشرات خوری‌اوله دې کبله دار وپاخلك تل دافکر کوی چه باید د هغو نسل ډیر او زیات کړی (سیکتی) نومی یو مارغه دی چه دافریقې پهورشو کانو او فصلو نو کښې ډیرلیدلی کیږی دغه مارغه ماران خوری ددې مارغه پنجې ډیری اوږدی وی او ددغو وږدوپنجو په ذریعه دخپل ځان څخه مدافعه کوی. اوځینی داراز مارغان هم شته چه هغوی تل‌مچان خوری او کنګس فشیر نومی یومارغه‌دی چه‌هغه اکثر کبان خوری او کله کله مږی هم‌خوری اکثرمارغان فالتو بو تی اوواښه‌خوری او ځینی داراز مارغان هم شته چه هغوی غلې اوخامې اوپخی‌میوی اوشکوفې او کلان خوری اوله‌دی کبله دباغونو او فصلو نو خاوندان تل دوی سره په مجادله بوخت وی او دغه راز مارغان چه میوی او فصلونه خلاص شی نود حشراتو پهخوړلو پیل کوی لیکن پوهانو دخپلو پلټنو پهترڅ کښې داخبره ثابته اومعلومه کړی‌ده چه کوم مارغان چه دونو او میوو دپاره مضروی هغه دنورو فصلونو دپاره ډیر مفید وی او که د حشراتو له خوا کوم تاوان او ضرر فصلونو ته پېښ شی نو دغه مارغان د بز کرو سره ددغه مرض په مجادله کښې ډیره مرسته کوی.

دساینس دعلم یو پوه د (تر) نومی مارغه دژوندانه مطالعه کړې اودې نتیجی ته رسیدلی دی چه دغه مارغه دخپلو چوچیانو دروزلو په زمانه کښې خپلو چو چیانو ته په یوه میاشت کښې لس زره مچان او نور حشرات ور کړی دی قدرت د انسان دژوندانه‌دپاره مارغانو ته‌خاص خاص وظیفی سپارلې دی حتی چه‌ددې فن ځینو پوهانو دا خبره هم کشف کړی‌ده چه کوم ښکاری مارغان چه دځینوپالتومارغانوښکار کوی هغه عموماً هغه مارغان وی چه کوم دنورو پالتو مارغانوپه نسبت ډیر مضروی.

اوتپوس اودغه رازنور مار غان مردار شوی څاروی او نورشیان خوری او ددوی ددغه کار په اثر دودانیو شاوخوا ځایونه دبدبویی او تعافن څخه پاکوی او کوم مارغان چه خلك په عمومی ډول دهغو ښکارنه کوی هغه خوش آوازه مارغان دی

او ډیر ځله دا کار لیدلی شوی دی چه کوم مارغان چه د کومې حادثې په اثر ژوبل شوی او دهغو په پرهارونو کښې چمچې پیدا شوی دی ځینې نور مارغان دهغو د پرهارونو چمچې خوری او دهغو پرهارونه پاکوی.

نوی سائنس د مارغانو اهمیت له پخوا څخه ډیر زیات کړ لکه چه د دغه کار په اثر د کمیابو مارغانو د نسل د زیاتو لو د پاره راز راز تجویزونه او انتظامونه شروع شویدی او په ۱۸۸۹ ع کال کښې انګلیسانو د مارغانو د حفاظت د پاره (آر، ایس، پی، بی) نومی انجمن او امریکایانو په ۱۹۰۲ ع کال کښې (این، ای، ای، ایس) نومی انجمن افتتاح کړ او د هند حکومت هم د مارغانو د حفاظت د پاره ډیر قوانین وضع کړی دی او د دغو قوانینو په اثر د هر ولایت د بنګار د محکمې مامورین د مرغانو د حفاظت د پاره په ممکنو تجویزونو غور او فکر کوی انسانانو د خپل اجتماعی ژوندون د پاره ځینې مفید او کټور نکات د مارغانو د ژوندانه نه څخه اخیستلی دی او د مرغانو تقلید ئې کړیدی او نن دهم دغه تقلید په مرسته انسان د اسمان په فضا کې الوځی او له دې کبله چه انسان اشرف المخلوقات دی نوده دالوتلو په شعبه کې هم د مارغانو څخه ډیره ترقی کړی ده او نن انسان د دغه تقلید به مرسته کولی شی چه ډیر درانده شیان له یوی منطقی نه بلی منطقی ته په ډیر سرعت سره یوسی.

شاولی « علی محمد خپل »

له نفاق څخه توبه ګارشی!

که په رښتیا غواړی چه له خپل ژوند څخه بر خوردار او په نړۍ کښې هوسا او باافتخاره ژوند ولری، نوله نفاق څخه توبه ګارشی!

په دنیا کښې انسانو خپل دنفوذ او رسوخ او دځان تفوق لپاره هر څومره هڅې کړی دځان دساتنې اودنورو بر بادۍ او محو کیدو لپاره یې اختراعات او هر راز مدهشې او تباه کوونکې وسلې جوړی کړی دی سره له دې یې هم پرته له یووالې څخه هیڅکله په ژوندانه کښې دښې ورځې مخه نه ده لیدلې.

که سړی دتاریخ پاڼې راواړوی اوپه ځیر په کښې کتنه وکړی پهدنیا کښې دبر داسې کامونه او ملتونه تېر شوې دی چه هیڅ راز مدهشې وسلې ئې دومره ذبر بادۍ سبب شوی ندی شوی څومره چه د نفاق توری سره ستې کړی او دنابودۍ په کندو کښې یې ترې تم حتی دموجودیت نوم هم ور پاتې شوی نه دی.

نوثابته ده چه نفاق په هر کام کښې دخوارۍ تباهۍ، بربادۍ، او ... او .. باعث برعکس اتفاق دهرقام او ملت دنجات او د باافتخار ژوند لوی عامل دی نوای دپښتونخواه سچه او سپېڅلو پښتنو! ای د احمدشاه، شیرشاه او مرویس او لاده! تاسو خودیوه لاس ګوتې او دیوه باغ ګلان یاست!

له نفاق څخه توبه ګار او دیوه لاس ګوتو په شان یوځای او د غلیم د غاښو دماتولو لپاره پولادی سوك په شان په یوه زړه په یا که مینه په یوه تاتوبی را نول او راغونډشی، بغض، کینه، ځانځانی، تر بګنۍ، عداوتونه لهمنځه لرۍ دا تحاد او یووالی په وسله ځان مسلح او دخپلوحقه حقو ګټلو لپاره په تینګ عزم قوی ایمان او متینې ارادی دعمل ډ ګرته را ووځی!

مه کوی ددښمن پهچالو فریبونو، پهغوړو اوپستو خبرومه غولیږی ځکه پښتو نستان ستاسو خپله آبائی او اجدادی مینه، او د آزادۍ ګټلی یې ستاسو وظیفه ده.

وګوری!! تنني عصر ددنیا نول ویده او اسیر کامونه راویښ او دخپلو حقوقو

په گټلو برخوردار او آزادشول ، پرونی هندوستان آزاد او دپاکستان دومینون هم را موجود شو، اندونیزیا خپله آزادی و گټله، لیبیا هم د آزادو مملکتو تر څنگ خپله د خپلواکۍ جنډه ودروله په دنیا کښی بی سرو پایه یهودیانو هم ځان ته موجودیت پیدا کړ، همداشان په دنیا کښی په ملیونو نفوس آزاده او په خپل حق ورسیدل ، منګر تنها ته یې چه ستاله بی اتفاقۍ او ځانځانۍ څخه غلیم استفاده او غواړی چه ستا، په فطری او بشری حق سترگې پټی او ننني چو دریان غواړی چه تاهم د ځان په ښان د اسلام غلیم ته مریې او لاس په نامه و دروی.

منګر پام کوه ځان راویښ کړه سترگې وغوړوه، چپ چا پېرو گوره ، خپل او پردی دوست او دښمن و پېژنه،

له نفاق څخه توبه گار شه او خپل مقدس مرام پسې چه د پښتونستان آزادی ده په ټینگ عزم او پښتنې اراده هڅه و کړه ځکه!،

په دنیا دننیگالی دی دادوه کاره یا به وخوری ککرۍ یا به کامران شی

ښاغلی کلیم

آزاد پښتونستان او د پښتنو

راتلونکی ژوند

هرقوم چه د استعمار په زولنو کې بندی وی او د غلامۍ ځنځیرونه تړې گرد چاپیره تاؤ شوی وی، هغه هیڅو خت د سعادت او نیکبختۍ مخ نه شي لیدلی او د غسې ملت ته دژوند نه مرگ په سل ځلی بهتر دی.

دملـلو او اقوامو سیاسی مشران اولیډران همیشه دهمدې ټکی د پاره مجادله کوی چه خپل قوم د بل قوم د سلطې او استعمار نه خلاص کړی ـ د تاریخ په پاڼو کې مهمه برخه هماغه واقعات لری چه د ازادۍ د جنگ تذکار کوی، او د استقلال خوازه خاطرات راتلونکی نسل ته امانت ساتی ـ درې د برش کاله پخوا اعلحضیرت شهید محمد نادرشاه غازی چه په هغه وخت کې سپه سالار و په تل کې دهمدې فکر د پاره د قربانۍ میدان ته حاضر شوی و او په همدغه زمانه کې په زر گونو پښتنو دهمدې نظریې د پاره فدا کاری ور کړه د هر کسان چه زمونږ اوستاسی په نظر کی د مختلفو نژادونو او اقوامو د ډلو نه محبوبیت او معروفیت لری د هغوی غټې کار نامی هم دادی چه خپل ملتو نه ئی د استعمار د قید نه آزاد کړیدی.

نن پرون چه د پښتونستان موضوع منځ ته راله یدلې ده تاریخ بیا د یو مهم تحول اولوئې حادثې ثبت ته بې صبرانه انتظار لری ـ د پښتونستان مسئله یوازې کومه خیالی او مفکوروی جنبه نلری، دا د شل ملیونه پښتون ملت یواز ینۍ هغه آرزوده چه پښتانه ټول خپل آینده ژوندون دهغې تر حصوله پورې موقوف او مربوط گڼې او د هغې د کامیابۍ د پاره هرقسم فدا کارۍ او قربانۍ ور کولو ته په ډېر افتخار او ډېره خوښۍ او خوشالۍ حاضر او اماده دی، نن چه د تیراه، وزیرستان، بلوچستان، مومندو باجوړ، سالارزو دلوړو غرونو په جگو څوکو کوم سره رنگې بیرغونه رپېږی دا فقط دهمدې خبرې نمونه ده چه پښتانه د پښتونستان د حصول په لاره کې د خپلو وینو تویولو ته کاملاً اماده دی پښتانه دا ټکی ډېر واضح گوری چه که پښتونستان تشکیل نه

شي دپښتنو ژوندون تریخ دی او هیڅ امکان نه لری چه بې دخپلواکۍ د ګټلو نه شریفانه حیات ته دامه ورکړل شي. استعمار او دنورو دباداری لاندې شپې تیرول یعنې داچه دیوقوم داداري او حکمرانۍ واګې دبل قوم او اجنبي ملت یاحکومت پلاس ورتلل محکوم اومستعمره وطن دهرقسم انسانی مهموم حقو قونه بې نصیبه کړی په دغسې حالت باندې شپې تیرول نن دنیا کې دیو ډېر ضعیف قوم دپاره هم ګران تمامېږي اوهمدا وجه ده چه پښتنو عزم کړی لوی واره، نراو ښځی ژاړه اوځلمیان دیو آزاد پښتو نستان دګټلو دپاره مجا دله و کړی او په هرقیمت چه وی د ا خپله خوږه او عالی آرزو سرته ورسوی-

آزادی دانسان فطری حق دی او نن ورځ دې دپاره ډېر کوشش جاری دی چه د غه حق انسان ته پوره پوره ورسېږی، په دغو لنډو شپو کې ډېر ممالک دې حق ته ور سېدل اودډېرو کلونو داستعمار جالونه ئی وشکول- پښتنو هم په دې اساس د خپلې ازادۍ د ګټلو دپاره ډېره موده کېږي چه مجا دله شروع کړیده او اوس هغه موقع ډېره نژدې راغلې ده چه دوی دخپلو جګړو او مجا دلو نه نتیجه واخلی- دانتیجه د ایشیا په منځ کې دیو مستقل حکومت جوړول دی چه دهغه نوم به «پښتونستان» وی دپاکستان دومینیون بې ځایه په دې خبره اصرار کوی چه پښتانه خپل غلامان کړی داد ملتونو یو طبیعي حق دی اودفطرت اوطبیعت داقتضا تو سره جګړه کول اود هغو مخه نیول ډېره ساده ګي او بې سنجشی ده- نن داسې وخت راغلی دی چه څوك دیو ډېر ضعیف قوم سره هم دتعدی اوتجا وزنه کار نه شي اخستلی او حتی دیوفرد حق هم څوك نه شي هضمولی نوښه د(۷۰) لکو ننګیا لو اوسر تیرو پښتنو حقوق به څنګه وخوړل شي- نه! دا هیڅکله ممکنه نه ده پښتانه به دنیاته و ښئی چه دوی څنګه کولی شي دخپلو او ز دو جګړو نه مثبته نتیجه واخلی، خپل تحریك کامیاب کړی، میدان و ګټی، غلیمان سر ټیټي کړی او په شرق کې د (۷) ملیونو پښتنو دپاره یو آزاد او مستقل حکومت د لوی خدای په فضل تشکیل کاندی-

MAY 2 7 1952

په پښتو ټولنه کی

په ډېره خوشحالۍ د پښتو ژبی مینانو ته زیری ور کوو چه د پښتو د لوی قاموس لومړی ټوك دچاپ ډگرته راو ووت. داقاموس دپښتو ټولنی دلسو دولسو کالو دزیار اوزحمت نتیجه ده.

دپښتو ټولنی ټولو اعضاؤ اوپه تېره دلغاتو دڅانگې غړیو ددې قاموس په تدوین او جوړولو کښی ډیر کړاو وېستلی دی.

ددې قاموس دواړه جلده تقریباً ٤٥ زره لغات لری اول ټوك د الف له ردیف څخه د (س) تر ردیف پوری دی. او (٦٦٧) مخه لری.

ښایی چه دپښتو مینان دپښتو ژبې دالوی قیمتي اثر له پاڼو ځای څخه وا خلی او خپله کتابخونه پرې ښایسته کړی.

Copy
9
3
26

کابل

دیوه کال قیمت

د کابل په بنار کښې	:	۳٦ افغانۍ
په دننه هېواد کښې	:	٤۰ افغانۍ
په نورو ملکونو کښې	:	٤ دالره
د ښوونځیو زده کوونکوته	:	نیمه بیه
یوه کڼه	:	دوه افغانۍ

(۳۰۸)

SMITHSONIAN INSTITUTION
WASHINGTON 25, D.C.